ناول

# لسم ولسمشر

لیکوال: **نورالله سلطان زوی**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب ځانګړنې:**


د کتاب نوم: **لسم ولسمشر /نــاول**

لیکوال: نورالله سلطان زوی

د پښتې ډیزاین: صدیق علمي

د چاپ شمېر: دوه زره ټوکه

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ ش

چاپځای: وایګل چاپ/۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

کمپوز: حسیب الرحمن ساحل


ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

ټولو هغو وګړو ته چې ضميرونه يې د واقيعتونو په لټه کې وي.

استاد نورالله سلطان زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

زموږ اتلان تل له مړینې وروسته یادیږي، ښې بیلګې یې سیدجمال الدین افغان، غازي امان الله خان او ډاکټر نجیب الله دي.

هر څوک دا خبره کوي، راځئ د خپلو اتلانو قدر د دوی په ژوندونې وکړو خو هیڅوک په دې برخه کې قدم پورته نه کړ. تل مو اتلان په سترګو او ستومانه حالت کې یا دې ته اړ کیږي چې خپل وطن پریږدي یا د پردیو په لمسون وژل کیږي.

دا راته لویه بې انصافي ښکاري چې په ژوندون یې په کاڼو ولو او سل کاله وروسته بیا پرې ویاړو.

نو ما هم په همدې موخه د خپل اتل ولسمشر محمد اشرف غني په هکله د لسم ولسمشر تر سرلیک لاندې یو ناول ولیکلو.

په دې ناول کې مې د ولسمشر محمد اشرف غني هغه وطن پالنه را اخیستې دی چې زموږ راتلونکی نسلونه به زر کاله وروسته هم پرې ویاړی.

څرنګه چې ناول ډېر معلومات نه شي ځایولی نو زه هم پر څو کلي مسایلو پسې لاړ یم او له جزیاتو مې ډډه کړې.

نور تاسو او د ناول ترمنځ خنډ نه جوړیږم دا تاسو او دا مو لسم ولسمشر.

استاد نورالله سلطان زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډې يې وخوځېدې، لاسونه يې لپه کړل، ښه ځنډ وروسته يې دواړه لاسونه په مخ کش کړل. جاينماز يې له گومڼو (د جاينماز پيڅو) را ونيولو ټول يې کړ. په الماري کې يې کېښود. د چپ لاس په مړوند يې ساعت تاو کړ، ساعت ته يې سترگې ونيولې، له يوې شل دقيقې تيرې وې. په ديوال ځوړند تصوير يې سترگې ولگېدې.

ورو ورو ورنژدې شو. ښه ډېر يې ورته وکتل.

خو تسلي يې و نه شوه.

تصوير يې راښکته کړ. له ځان سره وغړيده، ويې ويل:

ـ نن خو دې بيا په سترگو کې ارام نه ليدل کيږي!!

د څادر پيڅه يې د تصوير په ښېښه تېره کړه، په ښېښه نرئ اوږدې ليکې جوړې شوې، بيا يې په خپل ځای کې را ځوړند کړ.

يوه شيبه غلی شو، په تصوير کې يې سترگې گنډلې وې، له خولې يې اخ و وت:

ـ اخ زما خدايه! صبر راکړې، صبر!

په سترگو کې يې اوښکې ځليدلې يو سوړ اسويلی يې و يوست، مخامخ يې ديوال ته ډډه و وهله، په فکرونو کې ډوب شو.

ښکلا د چای پتنوس را د ننه کړ. پتنوس يې په ځمکه کېښود، د پلار په لوري يې پام شو، چې سترگې يې لکه غمي ځليږي.

د پلار تر څنگ کښېناستله، لاسونه يې ترې په گوتو کې ونيول، د ټيکري په پيڅه يې د پلار اوښکې وچې کړې او په غلي غږ يې وويل: پلاره!

ـ نن دې بيا دې تصوير ته اوښکې توئې کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا تصویر به دې لیونی کړي، ټول ویښتان یې درسپین کړل، لکه د عربو مسافري دې چې کړې وي!

الماس خپلې سترګې ؤمږلې، ښکلا یې په سر ښکل کړه، ویې ویل:

ـ نه لورې دا تصویر زما د هیلو او خوبونو هینداره ده!

دا طبیعي خبره ده، کله چې یو څوک خپلې هیلې او خوبونه د حقیقت په بڼه و ویني؛ نو کله تېر وخت وریادیږي، کله راتلونکی او د دې دواړو وختونو تر منځ پرتله کولو پر مهال یې له سترګو اوښکې تویږي!

خو دا اوښکې کله د بیوسۍ شکل لري او کله کله د غرور بڼه هم خپلوي.

ښکلا د تصویر په لوري لاس سم کړ، ویې ویل:

ـ زه به همدا اوس دا تصویر له دې کوټې لرې کړم، ترې خلاص به دې کړم.

له انګړه به یې هم د باندې وباسم.

ښکلا له ځایه پورته کېدله، چې تصویر له دیواله لرې کړي او د باندې یې وباسي، خو الماس په مټ کې ونیوله، ورته ویې ویل:

نه نه لورې!

ـ دا څه کوې؟!

د دې تصویر ایستل زما د ساه ایستل دي!

دا منم چې په څرګنده مې ژړوي، خو د ژړا تر څنګ یو ډول سکون را کوي. د دې تصویر تر شا روښنايي وینم، خو په دې نه پوهیږم چې دا وړانګې له کومه ځایه راځلیږي!

ښکلا غلې ودریده او د پلار په سترګو کې یې سترګې ونیولې، زړه یې لوی کړ، له پلار یې ؤپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې تصوير کې څه دي، چې هم دې ژړوي او هم سکون درکوي؟

ـ زه خو چې ټوله ورځ هم ورته وګورم، کومه اغیزه نه راباندې کوي یوه کېږۍ ده! دوه سترګې او یو ډنګر وجود!

الماس مسکی شو، ښکلا ته نږدې شو بیا یې په سر ښکل کړه، خبرې یې پیل کړې:

لورې! په دې تصویر کې زه د یو ملت هیلې وینم!

د هغه کړیدلي ملت هیلې، چې د ځګیرویو او کوکو له لاسه یې ټول کاینات شپه او ورځ ژړېږي. کله چې د یو داسې ځوریدلي ملت هیلې وګورې چې مسکۍ مسکۍ کیږي او د غوړیدو په حال کې وي؛ نو حتماً به هم سکون اخلې او هم به ژاړې!

زه په دې تصویر کې ډېر درد وینم.

ـ هغه درد چې زه یې وینم، که نړۍ یې هم وویني نو ټوله نړۍ به په ژړا شي کوکې به وکړي! کائنات به بې هوښه شي! ټوله نړۍ به ولړزوي.

ښکلا په تصویر کې سترګې ونیولې، خو نه یې پکې هیلې لیدلی شوې او نه یې په کې درد، نو ځکه یې نه سکون ورسره کولو او نه یې ورته ژړل.

ښکلا تصویر ته ګوته ور سمه کړه، ویې پوښتل:

نو دا څه ډول تصویر دی، چې تاسو په کې هر څه وینئ او زه په کې هیڅ!؟

الماس او زرغونې همدا یوه لور لرله، چې په دولسم ټولګي کې یې زده کړې کولې. الماس به تل خپلې لور ښکلا ته د هېواد تاریخي کیسې ویلې او دا سپارښتنه به یې ورته کوله، چې په راتلونکې کې باید د پلار په څېر یوه با جرئته مسلکي ښوونکې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس یوه شېبه غلی شو، بیا یې د ښکلا پوښتنې ته داسې ځواب ورکړ:

لورې لومړی چای واچوه بیا به خبرې کوو.

ښکلا هم له ځایه پاځېده پلار ته یې چای واچوه پیاله او شریني داني چې د گوړې له ژیړو کندوکو ډکه وه د پلار مخې ته کېښودل.

د شنه چای شمه په پیاله کې ښکته او پورته کېدله.

الماس په پیاله کې سترگې ونیولې بیا یې سترگې پورته کړې ښکلا ته یې وویل:

لورې! ته هم یوه پیاله وڅښه.

ښکلا لا ناسته نه وه، چې الماس د پیالو پتنوس را کش کړ او ښکلا ته یې په بله پیاله کې چای واچوه.

د پیالو له غاړو د چای تاوونه لکه ماران را پورته کېدل الماس خپلې خبرې پیل کړې:

لورې! په دې تصویر کې ډېرې خبرې دي. هغه متل مې را یاد شو چې وایي:

یو تصویر زر خبرې!

که ووایم: یو تصویر او یو راتلونکی! نو دا به هم سمه وي، خو زه یې را لنډوم:

په دې تصویر کې چې تاسو ځوک وینئ له نن څخه ۷۰ کاله وړاندې د لوگر ولایت د شاه جهان احمدزي په کورکې یې دې نړۍ ته سترگې وغړولې.

د کورنۍ غړي یې ډېر خوښ ؤ. له خدای ﷻ څخه یې شکر اداء کړ چې په داسې یو ښکلې ماشوم یې ونازول.

خوږ ؤ، ډېرې ښکلې سترگې یې درلودې، گرد مرد سپین لاسونو ته به یې د هر چا مینه راتله او د کورنۍ په ټولو غړو له حده زیات گران ؤ. مور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار یې ښه پالنه کوله. ورځ په ورځ ښه کېده. څو کاله وروسته ښوونځي ته د تلو شو. د همدې ولایت په یوه ښوونځي کې یې په زده کړه پیل وکړ، له کوچنیتوبه یې له کاغذ او قلم سره مینه لرله.د کتابونو زرغون رنګه څرمنیزه بکسه به یې تر شا تړلې وه. په خپلو همزولو کې به له ورایه ښکاریده. په ډېر شوق او ذوق سره یې د ښوونځي دا خواږه وختونه تېرول، چې څه وخت وروسته یې د حبیبیې لیسې ته لار موندله.

څو کاله وروسته یې د حبیبیې لیسې څخه د۱۲ ټولګي د فراغت سند ترلاسه کړ.

د زده کړې او پوهې بې کچې مینې یې ارادې لا پیاوړې کړې او غوښتل یې، چې زده کړه وکړي که هغه په هر ځای کې وي.

نو ځکه له دې وروسته د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو په موخه د لبنان هېواد ته لاړو. د څو کالو هڅو او ستونزو ګاللو وروسته په دې وتوانیده، چې د بیروت امریکایې پوهنتون کې د سیاسي علومو په برخه کې د لیسانس او ماستري سندونه ترلاسه کړي.

د ماستري د ترلاسه کولو څخه وروسته بېرته د ګران هېواد افغانستان په پاکه خاوره قدم کېښود. د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو په پوهنځي د وګړ پوهنې په برخه کې یې په تدریس پیل وکړ. په هغه وخت کې د کابل په پوهنتون کې تدریس د هر چا د وسې کار هم نه ؤ، یوه ځانګړې وړتیا به دې لرله، چې هلته د استاد په دنده ګمارل شوی وای.

الماس په دوه ګوتو کې د ګوړې کندوکی را واخیست تر غاښونو یې لاندې کړ، د چای پیاله یې پورته کړه غوړپ یې ترې وکړ، د ګوړې کندوکی داسې خوړین شو لکه په لوټه چې اوبه واچوې. د الماس له خولې هم د چای

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوونه را ووتل او له پيالې هم تودې لوخړې پورته کېدلې، پياله يې په لاس کې نيولې وه او ښکلا ته يې وويل:

لورې له چای هم غوړپ کوه!

دا ډېرې اوږدې کيسې دي.

زما پلار ته دې خدای ﷻ ښښنه وکړي ډېر پرې ګران وم. تل به يې راته د سقاو د وخت کيسې لوستلې.

دواړه به په يوه کمپله کې پټ ؤ، خو له ځان سره به مې ويل:

کاش مور مې هم راسره وای، ځکه د مور لمن خو جنت وي جنت!

له بده مرغه چې زه يتيم وم مور مې په پلار سپارلې وم.

پلار به مې هم زما د ذهن بوختولو په موخه هره شپه راته يوه يوه تاريخي کيسه لوستله. د مور په بيلتون کې له ځانه په ناخبره توګه يو تاريخ پوهـ شوم. اوس مې هم په ياد دي چې يو ماخوستن مې پلار لږ ناروغ ؤ او راته ويې ويل:

نن ناروغ يم ومې ښښه کېسه نه شم ويلی.

ما هم ورسره ؤمنله. خو زه د کيسې له هنره نه وم خبر. تر ډېر وخته ويښ وم په يو لټ او بل لټ به اوښتلم؛ خو يو وخت ؤ چې سترګې مې خوب نيولې وې راويښ شوم.

پلار مې سهارنۍ چمتو کړې وه، هر چاته دې خدای ﷻ داسې پلار ورکړي، په ګډه مو له سهارنۍ ډېر خوند واخيست. پلار مې پوهنتون ته لاړ او زه ښوونځي ته.

پلار مې د ټولنيزو علومو په پوهنځي کې استاد ؤ او مور مې د يوې ليسې مديره وه چې هغې هم په ټولنيزو علومو کې خپلې زده کړې ترسره کړې وې.

پلار به مې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور دې يوه ډېره مهربانه ښځه وه، په ښوونځي کې به يې په يتيمو ماشومانو ځانګړې پام کاوه؛ خو خبره نه وه چې خپل زوی هم بې موره پرېږدي او د تل له پاره ورسره خدای په اماني کوي. زه هم له دوی اغېزمن شوم چې د تاريخ په څانګه کې مې خپلې زده کړې پيل کړې او اوس د تاريخ استاد يم.

ښکلا فکرونو په مخه کړه، په ذهن کې يې عجيب تصوير مجسم شو:

اوه کلن ماشوم له خپل پلار سره په کمپله کې پټ وي او د پلار خبرو ته يې غوږ نيولی وي. هره خبره يې په ډېر پام سره اوري. برېنګې سترګې يې په تياره کې ځليږي. يو وخت وي چې په سترګو کې يې د غړيدا ځواک نه وي پاتې، ځلا يې ورو ورو کمېږي او د پلار خبرو يې د خوب غېږې ته سپارلی وي.

پلار يې هم ؤپوهيږي چې ماشوم ويده شو پر بالښت يې سر ورسم کړي، کمپله پرې کش کړي. له خولې يې سوړ اسويلی ووځي، بيا ووايي:

مور هم لوی نعمت دی. نارينه هغه وخت پوهيږي، چې د يو ماشوم پالل ورغاړې شي، چې د ماشوم لويول څومره ستونزې لري.

په دې وخت کې د ښکلا له سترګو اوښکې توئې شوې، ژر ژر يې د خپل سالو په پيڅه وچې کړې، د چای پياله يې پورته کړه يو ښه غوړپ يې ترې وکړ او د پلار د پام اړولو له پاره يې وويل:

فکر کوم چې تاسو له دې تصوير سره د استادۍ رشته هم پالۍ؟

الماس مسکی شو او زياته يې کړه:

کاش چې زه هم داسې يو څوک وای!!

الماس بيا له چای غوړپ وکړ او خپلې خبرې يې وغځولې:

لورې! کوم، کوم نوښتونه به يې درته ووايم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه وخت وروسته د بورس له لارې د نیویارک کولمبیا پوهنتون ته لاړ وموندله، د ځوانۍ انرژي یې د پوهنتون په درسونو مصرف کړه او له یاد پوهنتون څخه یې په نړیوالو اړیکو کې د ماسټري بل سند ترلاسه کړ. شپه او ورځ یې په ځان یوه کړه او خپلو ټولګیوالو ته یې خپل افغاني غرور ښکاره کړ.

الماس د چای پیاله پورته کړه، ښکلا ته یې ورمیږ ور کوږ کړ، ورو یې وویل:

لورې! چای در څخه سوړ شو.

ښکلا سمدلاسه پیالې ته لاس ور وغځولو، پیاله یې پورته کړه.

الماس په شونډو ژبه کش کړه، لمندې شونډې یې وښوریدلې، ویې ویل:

د وخت ضایع کېدل یې وجدان نه منل، د دوکتورا تر لاسه کولو ته یې پایڅې بډ وهلې، د وګړ پوهنې په برخه کې یې له همدې پوهنتون څخه د دوکتورا سند هم تر لاسه کړ. دغه دوره یې هم ډېره بریالۍ وه. په افغاني غرور یې خپلې وړتیاوې نړۍ ته وښودې. وروسته د کالیفورنیا د برکلي پوهنتون ته د تدریس په موخه څکه بلنه ورکړل شوه، چې د محصلۍ په دوره کې یې د ټولو استادانو پام خپل کړی ؤ. اته کاله یې په یاد پوهنتون کې تدریس وکړ او همدارنګه د امریکا جان هاپکنیز پوهنتون کې یې هم د استادۍ سپیڅلې دنده ترسره کړه.

ښکلا وروځې کش کړې، ویې ویل:

برکلي او جان هاپکنیز پوهنتونونه خو د نړۍ له غورو پوهنتونو ګڼل کېږي.

الماس د هو په مانا سر وښوراوه. خپلې خبرې یې وغځولې:

همدارنګه نړیوال بانک کې د لوی پوهـ انسان په توګه یې دنده پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د اقتصادي پروګرامونو د انساني اړخونو تحليل به يې کولو او مناسبې حل لارې به يې وړاندېزولې.

ـ تقريباً ۱۱ کاله يې په نړيوال بانک کې دنده ترسره کړه خپل کار يې په ختيځه اسيا کې د پروژو په طرحه کولو پيل او وروسته يې د نړيوال بانک له پاره سياسي ستراتيژي ترتيب کړه.

الماس د خبرو په منځ کې له ښکلا ؤ پوښتل:

لورې څه فکر کوې چې په نړيوال بانک کې ۱۱ کاله کار کول لوی وياړ نه دی؟!

ښکلا وويل:

هو پلاره لوی وياړ دی او د هر چا کار هم نه دی!

الماس خپلې نيمګړې خبره را واخيسته:

ـ په همدې وخت کې د هېوادونو په هکله يې د نړيوال بانک ستراتيژي وکتله او اړين اصلاحات يې وړانديز کړل.

ښکلا د خبرو په منځ کې وويل:

د افغاني غرور خبرې خو هر سړی کوي خو دې ته وايې افغان! په نړيوال بانک کې کار کول هم وړتيا غواړي!

الماس د يو اسويلي په بدرګه وويل:

هی لورې! تر اوسه خو مې ډېر لږ څه درته وويل، خېر نوره به هم ؤپوهيږې.

الماس خپلې خبرې بيا وغځولې:

ـ په نړۍ کې د ادارو او دولتي بنسټونو په هکله يې د يو لړ بنسټيزو اصلاحاتو وړانديز وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د روسيې د ډېرو سکارو پر پروګرامونو يې د خپلو وړانديزونو د عملي کولو کار پيل کړ.

ـ په چين، هندوستان او روسيه کې يې د لويو پروژو اقتصادي اصلاحاتو د پلي کولو له پاره پنځه کاله اغيزمن کار وکړ.

ښکلا د خبرې په منځ کې را ولويده:

پلاره! نور خلک د خپل هېواد په جوړونه کې له هر چا ګټه اخلي خو موږ د خپل هېواد په ړنګولو کې له هر چا مرسته غواړو!

الماس د يو سوړ اسويلي په بدرګه وويل:

بس د نورو او زموږ ترمنځ توپير همدا دی!

الماس سر وښوراوه بيا يې نيمګړې خبره را واخيسته:

په ټولو کارونو کې يې ښې پايلې ولرلې، نو ځکه يې ټول نړيوال درناوی کوي او په هر پوهنتون کې يې استادان د يوې بيلګې په توګه محصلينو ته يادوي.

کله چې به يې د نورو هېوادونو په هکله خپل نظر وړاندې کاوه بيا يې د خپلو وړاندې شويو نظرياتو په عملي کولو کار پيلولو، نو د خپل هېواد بې وزله، نيستمن او جګړه ځپلي هېوادوال سترګو کې ښخ ؤ او ويل به يې:

کاش زه په خپل هېواد کې داسې پروژې تطبيق کړم! دا زما لويه کمزوري ده، چې خپل هېواد ته مې څه نه دي کړي.

آيا پر ما مې هېواد حق نه لري؟

آيا د هغو کورنيو غربت وزغمم، چې ماشومان يې هره شپه نهار ويده کېږي؟!

تل به يې ځان ملامتولو او له لوی خدای ﷻ څخه به يې غوښتنه کوله:

يا الله! داسې يو فرصت په لاس راکړې چې د خپلو هېوادوالو په ټپونو پټۍ کېږدم. شپه او ورځ کار وکړم، چې خپل هېواد وال له غربت وژغورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس تصویر ته گوته ور سمه کړه ویې ویل:

له ماشومتوبه یې له زده کړې سره مینه وه. د هر موقف تر څنګ یې زده کړې کړې دي.

په نړیوال بانک کې د کار پر مهال ئې د هاروارډ ـ اینسیډ او سټنفورډ تجارتي پوهنتونونو له خوا د مشرتابه (رهبریت) تر عنوان لاندې جوړ شوي روزنیز پروګرامونه وځارل.

ـ د اتم ولسمشر د واکمني راپرځېدلو وروسته یې بیا د افغانستان په خاوره قدم کېښود. زړه یې بل ډول خوښي کوله او ویل یې:

نن د دې وجود انرژي د پلرونو او نیکونو ټاټوبي کې په مصرف رسوم.

ښکلا د پلار خبرې پرې کړې:

خود به خوښ ؤ، چې د کلونو کلونو ارمان یې پوره کېده.

الماس غاړه تازه کړه، ویې ویل:

سمدلاسه لاس په کار شو. د لخضر ابراهیمي د لوی سلاکار په توګه یې په کار پیل وکړ.

ـ د بن د پروسې په عملي کولو یې هم کار پیل کړ او په لنډ مهاله اداره کې یې د اداري مشر سلاکار په توګه دنده ترسره کړه. لومړنی کس ؤ چې خپلې تجربې یې د خپلو خلکو د خدمت له پاره په کار واچولې.

په نړۍ کې یې په ډېرو لوړو بستونو کار کړی، خو د یو افغاني او انساني احساس له مخې یې دا هر څه پرېښودل. په دوه زره یو زکال د سیپټمبر د یولسمې پیښې څخه وروسته په نړیوال بانک کې له دندې څخه استعفا لیک وړاندې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نهم ولسمشر د واکمنۍ پر مهال د ماليې وزير په توگه وټاکل شو، چې په دې برخه کې يې خورا ډېر د پام وړ بدلونونه راوستل او په سيمه کې تر ټولو غوره محاسب په نوم يادشو!

د ماليې په برخه کې يې د بنسټيزو اصلاحاتو او نوښتونو سره د هېواد د مالي سياست، شفافيت او حساب ورکونې پروسه يې عملاً رامنځ ته کړه.

ـ په دې وتوانيده چې په درې اونيو کې د دولت عوايد مرکزي کړي.

ـ نوي بانکي نوټونه يې چاپ کړل او بازار ته يې وړاندې کړل. د يوې ښې سيکې خاوندان يې کړو؛ خو موږ اوس هم په مختلفو ولايتونو کې په مختلفو پرديو سيکو پير او پلور کوو.

ښکلا له جيب څخه د افغانيو سلگون نوټ را ويوست. نوټ يې خلاص کړ. په نوټ کې يې د يوه جماعت په تصوير سترگې ښخې شوې. په تصوير کې يې سترگې و نيولې. يوه شيبه غلې وه بيا يې سترگې پورته کړې ويې ويل:

څومره سپيڅلې عقيده لري! د ځينو هېوادونو په سيکه کې به تک شين خريلي مخ رډې سترگې درته نيولې وي! ليکن زموږ په سيکه کې د خدای ﷻ کور ښکاري.

الماس هم په نوټ کې سترگې ونيولې، يوه شيبه غلی ؤ. ناڅاپه يې وويل:

خو موږ په همغه سيکه پير او پلور کوو. په خپله سيکه شرميږو!

ښکلا نوټ ټول کړ بيا يې ښکل کړ، ويې ويل:

پلاره اورم!

الماس په خپلو پاتو خبرو پيل وکړ:

خزانه کمپيوټرايز او د خزانې له پاره يې واحد سيستم دود کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ له بودېجوي کمښت پرته مالي پالیسي تصویب او پلې شوه. بودېجه د بنسټیزو او عمده وسایلو په توګه ؤپېژندل شوه، د ګمرکاتو او تعرفې سیستم اصلاح شو.

د ښه شفافیت له پاره یې خلکو، کابینې او نړیوالو مرستندویانو ته د راپور او حساب ورکولو میکانیزم رامنځ ته کړ.

د مالیې په وزارت کې د فساد د مخنیوي په موخه یې عملي سیستمونه وضع کړل.

ـ په اختلاس او درغلیو ککړ خلک یې له دندو ګوښه او د هغه مهال د ملي اردو د سرتېرو تنخواوې یې د سمو او موثقو لیستونو تر برابرولو پورې وځنډولې؛ ځکه چې په لیستونو کې ډېر خیالي سرتېري لېدل کېدل.

ښکلا د خیالي سرتېرو نوم نه ؤ اوریدلی، ځکه یې ؤپوښتل:

خیالي سرتېري!؟

الماس د ښکلا پوښتنه داسې ځواب کړه:

خیالي سرتېري په دې معنی چې سرتېري نه وي، لیکن معاش یې اخیستل کېږي. هر زور واکي لیستونه جوړ وي.

ښکلا له حیرانتیا غلې وه، هیڅ یې ونه ویل.

الماس خپله خبره را واخیسته:

د هغه وخت د دولت له خوا د ښه ماموریت د ترسره کولو په بدل کې تر ټولو اعلی ایوارډ او د سید جمال الدین افغان افتخاري مډال ورکړل شو.

ـ په پایله کې د اسیایي هېوادونو تر منځ د غوره مالیې وزیر په توګه ؤپېژندل شو.

د برلین په کنفرانس کې چې د ٦٥ هېوادونو د مالیې او بهرنیو چارو وزیرانو په کې ګډون درلودلو، د مالیې د وزیر په توګه یې د افغانانو د راتلونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوندي کولو په موخه ۷ کلن پروګرام وړاندې کړ، چې د ٦٥ هېوادونو وزيران ورته ګوته په غاښ پاتې ؤ. نوموړې طرحه د يو نيستمن او بې وزله هېواد له لوري ترتيب شوې غوره طرحه ؤپيژندل شوه. د نوموړي پروګرام اصلي بنسټ او مفکوره دوه اړخيزه ژمنتوب يعنې له يوه لورې د افغانستان دولت او نړيوالې ټولنې ترمنځ او له بله پلوه د افغانستان دولت او افغان ولس ترمنځ ژمنه تشکيلوله. له همدې امله نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د پروګرام له مخې له افغانستان سره د دريو کلونو له پاره ۸،۲ بيليونه ډالره مرسته وکړي!

لورې! دا تصوير د هغه چا تصوير دی چې د نيستۍ د ټغر ټولولو په موخه يې ځينې پروګرامونه رامنځ ته کړل چې ښه بېلګه يې د ملي پيوستون پروګرام دی.

د ملي پيوستون پروګرام په اوريدلو سره ښکلا ځير شوه او ويې ويل:

ملي پيوستون پروګرام!

هغه پروګرام چې زموږ د کلي خاه يې هم جوړه کړه؟

الماس په شونډو ژبه کش کړه، ويې ويل:

هو لرې! همغه ملي پيوستون يادوم.

په دې وخت کې د الماس موبايل وکړنګېده.

الماس موبايل را پورته کړ د سکرين پر مخ د درويش نوم پرکېدلو. د موبايل پر سکرين يې ګوته کش کړ غوږ ته يې ونيولو:

اسلام عليکم ريس صيب.

له هغه لورې هم خبرې کېدلې الماس غوږ ورته نيولی ؤ. يوه شيبه وروسته يې وويل:

سمه ده ريس صيب وپوهېدم د خدای په امان ښه وخت.

د موبايل پر سکرين يې بيا ګوته کش کړه اړيکه غوڅه شوه. موبايل يې پر توشکه واچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا اندیښنو په مخه کړې وه نو ځکه يې وپوښتل:

پلاره څوک ؤ او څه يې ويل؟

ریس صیب ؤ غوښتل يې صبا ته د ځوانانو د ذهنيت جوړوني په موخه يوه ليکچر وړاندې کړم.

په هر صورت د ملي پيوستون خبرې ته راګرځم:

دا پروګرام د افغانستان په کليو کې د سيمه ييزو شوراګانو جوړول ؤ. همدغو شوراګانو د خپلو سيمو لومړيتوبونه ټاکل، د پلانولو او پلي کولو مسؤليت يې په غاړه لرلو، بيا ورسره يوه اندازه مالي مرسته کېدله. نوموړی پروګرام په ټول هېواد کې له هرکلي سره مخ شو.

په افغانستان کې د ملي پيوستون د بريالي کېدلو له مخې په ډېرو نورو هېوادونو کې دا پلان ونيول شو، چې په خپلو سيمو کې ورته پروګرام پلان او پلی کړي.

ښکلا چې د پلار نازولې لور وه، په ډېر ناز له ځايه پورته شوه طلايي ويښتان يې دوه درې ځله يو خوا او بل خوا وڅنډل، سر يې پورته کړ په تصوير کې يې سترګې ونيولې، ويې ويل:

ډېر ګر وجود او دومره لوی کارونه!

ښکلا بيرته خپل ځای ته را وګرځېدله.

الماس هم پرته له څه ويلو په خپلو خبرو پيل وکړ:

د مخابراتو وزارت سره يې مرسته وکړه او د يوې رڼې پروسې له لارې يې مخابراتي شرکتونو ته د فعاليت او پانګونې جواز ورکولو سپارښتنې او لارښوونې وکړې.

دا کار ډېر اغيزمن ؤ، په پيل کې د موبايلونو شمېر سل زره سيټ ؤ، اوه کاله  وروسته اوه نيم ميليونو ته لوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا له جیبه موبایل را ویوست د موبایل په سکرین یې ګوتې وتپولې بیا یې وویل:

واه _ واه دا هم د ده د هڅو ثمره ده؟

الماس  د هو په مانا سر وښوراوه، خپلې خبرې یې اوږدې کړې:

ـ د نهم ولسمشر د ټاکل کېدو وروسته یې په کابینه کې د دندې ترسره کولو څخه ډډه وکړه او د کابل پوهنتون ریاست یې غوره وبللو!

د ښلا شونډې وغوړېدې ویې پوښتل:

دا ولې؟

د الماس تندی تریو شو، زیاته یې کړه:

له نظام یې زړه تور ؤ په اداري فساد ککړ نظام ؤ. د ریاست دندې ته یې ځکه زړه ښه کړ چې نوي نسل ته د وطن پالنې مفکوره ور پیچکاري کړي.

الماس بیا د تصویر پر لوري مخ تاو کړ، یوه شیبه غلی ؤ. ښکلا یې چوپتیا ور ماته کړه ویې ویل:

پلاره ولې غلی شوې؟

الماس وخندل په خندا کې یې وویل:

لږ لږ خو مې فکر ته پرېږده کنه.هاهاها.

الماس د کابل  پوهنتون د ریاست په هکله زیاته کړه:

کله چې د کابل پوهنتون د ریاست دنده ور په غاړه شوه، د پام وړ بدلونونه یې هم راوستل.

ښه بیلګه یې د ګډ اداري سیستم غوښتنه وه. د اداري غړي، استادان او شاګردان ټول راټولیدل او د ستونزو حل به یې موندلو. د کابل پوهنتون په هکله یې لرلید داسې ؤ چې په هغه کې نارینه او ښځینه محصلانې لازم مهارتونه تر لاسه کړي او د خپلې دردیدلې ټولنې له پاره اغیزمن تمام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د دولت د اغیزمنتوب له پاره یې د یو انستیټیوټ بنسټ کېښود، چې د اغیزمن حکومت کولو او شفاف سیستم په اړه له حکومتونو او د هغوی نړیواله مرستندویانو سره مرسته وکړي.

الماس له ځایه پورته شو د کتابونو د الماری دړه یې راکش کړه. لاس یې ور اوږد کړ له الماری یې یو کتاب را واخیست.

ښکلا هم الماس له سترګو نه غورځولو.

الماس بیرته په خپل ځای کښیناست ، ویې ویل:

له زیاتو بوختیاو سره یې لیکوالي هم کوله:

د "ناکامو دولتونو سمونې" په نوم یې یو کتاب چاپ او خپور شو. په دې وروستیو کې یې دا کتاب چې زما په لاس کې دی "د عادلانه نظام لار" په نوم په پښتو ژبه چاپ او خپور شو.

ښکلا لاس ور وغځولو، د پلار له لاس یې کتاب واخیست. د کتاب د پښتې شا او مخ یې ولیدل بیا یې وویل:

د دومره بوختیاو سره سره یې بیا کتابونه هم لیکلي!

په زړه پورې ده!

الماس په پیاله کې پاتې چای په سر واړاوه، چای یې په ستوني کې ګوړا وکړه، پیاله تشه شوه.

ښکلا په لاس کې کتاب نیولی ؤ، له ځایه پورته شوه په بل لاس یې چاینک راپورته کړ، طلایي ویښتان یې پر مخ خواره واره پراته ؤ. د پلار پیاله یې ډکه کړه.

د پیالې له منځه تودې لړې ختلې، الماس یوه شیبه غلی ؤ. ښکلا بیا په خپل ځای کښیناسته، په ښي لاس یې ویښتان بیل کړل نیم یې یوه خوا واړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نیم بله خوا سپین مخ او شنې سترګې یې ځلیدې. کتاب یې همغسې په لاس کې نیولی ؤ. غوښتل ئې، چې له پلاره نور څه واوري، پلار ته یې وکتل:
ښه پلاره!
الماس غاړه تازه کړه، ویې ویل:
ـ څو کاله وروسته د افغانستان له لوري د ملګرو ملتونو عمومي مشرۍ ته ونومول شو، چې د کوفي عنان ځای ناستی شي، له بده مرغه چې دا ځای بانکي مون خپل کړ.
د بانکي مون په بریا د ښکلا په تندي کې ګونځې پیدا شوې.
الماس د ښکلا په خفګان ؤپوهېده، نو خبره یې اوږده کړه:
لورې ۹۹ سلنه ماتې په خپله بریا ده!
همدارنګه د ماتې دویم نوم بریا بلل کېږي. تل هم د بریاؤ باران نه اوري.
الماس یوه شیبه غلی شو، بیا یې خبرې پیل کړې:
ـ د یوې ځانګړې وړتیا له مخې د امریکا متحده ایالاتو د سکرانتین پوهنتون افتخاري دوکتورا ورکړه او له دې یو کال وروسته د کاناډا د ګیف پوهنتون هم افتخاري دوکتورا ورته ډالۍ کړه.
د دې خبرې په اوریدلو سره د ښکلا په تندي کې ګونځې ورکې شوې.
د الماس خبره لا نه وه خلاصه چې ښکلا خپلې وروځې کش کړې او ویې ویل:
مور هم عجیب خلک یو!
الماس ورو وویل:
هغه څنګه لورې؟
ښکلا په کتاب کې سترګې ونیولې بیا یې سترګې پورته کړې ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چې دوه ماسټري او درې دوکتوراوې ولري او د نړۍ یوه بیلګه وي، له هغه  چا سره یې  په یوه تله تلو، چې په جهادي جبهو کې  په پیچکاري لړولو ځان ته ډاکټر وایي!

الماس مسکی شو په لوړ غږ یې وویل:

دونیا کې تول د مېړو نشته

تول د پیسو دی مسلیان خانانوینه

بس د ګاونډیو او نورو هېوادونو د پیسو زور دی چې هر څوک ځان نوماندوي. دلته د تور او سپین تر منځ توپیر نه کېږي هر څوک ښاغلی دی! په هر صورت خپلو خبرو ته راګرځم:

په لومړۍ ځل یې په ټولټاکنو کې ځان ولسمشریزو ټاکنو له پاره نوماند کړ چې په پایله کې څلورم نفر اعلان شو.

د ښکلا په مخ کې بیا وینه وتښتیدله او د پلار په کڅوړنو سترګو کې یې سترګې نیولې وې.

یوه شیبه غلې وه بیا یې وویل:

کاش چې هغه وخت کې لومړی کس اعلان شوی وای. نن به افغانستان په یوه پرمختللي هېواد بدل ؤ!

الماس وویل:

په هغه وخت کې مو هم مبارزه وکړه، خو همدې پردیپالو نه منله چې دا نن یې نه مني.

د ښکلا په ذهن کې یوه پوښتنه پیدا شوه؛ نو ځکه یې د پلار خبرې داسې غوڅې کړې:

. ما خو تر اوسه دا خبرې له هیچا نه وې اوریدلې، همدا اوس یې ستاسو له خولې اورم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماس شونډې ورپیدې ویې ویل:

په هغه وخت کې مې ځکه تاسو ته دا کیسې نه کولې، چې قانوني عمر دې نه ؤ پوره کړی. قانون ته باید په ټولو مسایلو کې درناوی وشي!

ښکلا د اسویلي په بدرګه وویل:

وړاندې دې تصویر راته هیڅ ارزښت نه لرلو، خو له نن وروسته به زه ددې تصویر ډېر درناوی کوم! او دې ته فکر وړې یم، چې زه ولې دومره ناخبره وم؟!

ولې په دې هر څه وړاندې نه پوهیدم؟!

خیر اوس هم وخت نه دی تېر، په ذهن کې مې ډېرې پوښتنې را ګرځي یوه یوه به کوم.

د الماس په شونډو یوه بېباکه خندا راغله او ښه یې وخندل بیا یې وویل:

د تصویر درناوی نه درسره منم، په تصویر کې د شخص درناوی به کوې!

ښکلا د ژمني په توګه سر وښوراوه.

الماس خپلې خبرې وغځولې ویې ویل:

زه هم په همدې خبرې فکر کوم چې موږ ولې نه پوهېږو؟

له تا ګیله نه کېږي، ځکه چې تر اوسه دې ښوونځی هم نه دی بشپړ کړی.

لورې! ګیله له هغه چا کېږي، چې د پوهاند علمي رتبې پورې رسیدلی وي؛ خپلې ملي ګټې نه پېژني او پر دې سربېره د نفاق شعارونه هم ورکوي!!

لورې لږ وخت را کړه؛ هر څه درته وایم او ټولې پوښتنې به دې ځواب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا مسکۍ شوه، په غمبورو کې يې ژورې کندې پيدا شوې او سترګې يې پټې کړې، بيا يې خلاصې کړې، ويې ويل:

ـ سمه ده پلاره اورم يې!

الماس ته د ښکلا حوصلې سمه انرژي ورکړه؛ بيا يې په خبرو پيل وکړ:

ـ د نهم ولسمشر په دويمه دوره کې له بهرنيو ځواکونو څخه داخلي ځواکونو ته د مسؤليت د ليږد دنده ور په غاړه شوه. پرته له کوم مادي امتيازه يې ور په غاړه شوی مسؤليت اداء کړ. په دې وخت کې يې د افغانستان له ۳۴ ولايتونو څخه ليدنه وکړه. په دې موخه يې له افغانانو سره اړيکې ټينګې کړې، چې شونې ده په راتلونکې ولسمشريزو ټاکنو کې بيا خپل بخت و ازمايي.

ښکلا د تصوير په طرف سترګې واړولې، ويې ويل:

ـ زه مې په ژوند کې په لومړي ځل دا خبره اورم، چې يو څوک پرته له کوم مادي امتيازه دومره لوی مسؤليت په غاړه واخلي. په رښتيا چې د وجود په ختړه کې يې د وطن مينه اغږل شوې ده!

د الماس غاښونه وبريښيدل، ويې ويل:

د وطن په مينه کې ډوب دی، په شپه او ورځ کې ۳ ساعته استراحت کوي. د وطن ويجاړی يې له سترګو خوب وړی! له داسې پرديپالو يې د هېواد ژغورلو نيت کړی، چې پلارونو او نيکونو يې پردي پاللي دي.

الماس بيا يوه شيبه غلی شو، سر يې وښوراوه، بيا يې خپلې خبرې پيل کړې:

ـ پينځه کاله وړاندې ولسمشريزو ټولټاکنو کې يې بيا ځلې ځان نوماند کړ او د ټاکنيزې مبارزې سر ټکي يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پراخو اصلاحاتو راوستل، د فساد ورکول او د امنیت ټینګښت ؤ. د ټاکنو په پایله کې یو نوماند هم (پنځوس + یو) رایې پوره نه کړې. انتخابات دویم پړاو ته لاړل:

په دویم پړاو کې یې خپل سیال ته ماته ورکړه، خو د ډېرو نانددریو وروسته یې د ملي وحدت په حکومت موافقه وکړه، چې واک په کې پنځوس پنځوس یعنې نیمایي شو. ټول ملت په غصه ؤ، ویل یې:

موږ دردیدلي ملت تر ارګ ورسولو، موږ څه وکړو، چې د قدرت په ګدۍ نه شي کښیناستی!

په ټولیزو رسنیو کې به هر چا لیکل:

زموږ د رایې دفاع نه شي کولای. موږ هسې پرې وغولیدلو او چا به داسې لیکل:

غوښ سړی، پښ کارونه. چا به څه ویل او چا به څه...

له بلې خوا مقابل ټیم د وینو بهیدلو او د کورنۍ جګړې پیلولو ګوتڅنډنې کولې او پلویانو به یې ویل:

که چېرې موږ تر ارګ ونه رسیدلو، نو حتماً به غرونو ته وخیژو!

ملت په لومړي ځل د تور، شنه او نارنجي حرکتونو نوي اصطلاحات واوریدل.

دې ګټونکي نوماند نه غوښتل چې:

ـ دا ځوریدلی ملت دې بیا وځوریږي، د هغو ځوانانو وینې دې توی شي، چې پلارونه یې د همدې کورنیو جګړو قرباني شوي او میندو یې کلونه کلونه کونډې ژون کړی. په کور کې به یې هګۍ جوش کړې او خپل یتیم زوی ته به یې غوټه کړې، چې په بازار کې یې وپلوري او د یو وخت وچه ډوډۍ ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماس له سترګو اوښکې روانې شوې. سلګيو واخيست. ښکلا هم ژړل. لور او پلار د خپل هېواد د کونډو په حالت ښه وژړل، ځکه چې د دې هېواد بل نوم د کونډو هېواد دی!

يوه شيبه وروسته الماس اوښکې پاکې کړې. په ژړغوني غږ يې وويل:

همدارنګه نه يې غوښتل چې:

ـ د انسان په سر کې دې بيا ميخونه ټک وهل شي!

ـنه يې غوښتل چې د ښځو سينې پرې شي!

ـنه يې غوښتل چې يو انسان دې له بل انسان سپی جوړ کړي او خپل هېواد وال دې پرې وداړي!

ـنه يې غوښتل چې د افغانانو په حالت دې تاريخي فلمونه جوړ شي لکه د "يوې شپې ناوې" فلم!

ـنه يې غوښتل چې افغانان دې بيا ګاونډيو هېوادونو ته مهاجر شي! او هلته د خوسا مهاجر په نوم ياد شي!

ـنه يې غوښتل چې د تاريخ تېرې ترخې تجربې دې بيا تکرار شي!

نو ځکه يې له خپل سيال ټيم سره ګټلی قدرت و ويشلو او د هېواد لسم ولسمشر شو!!

ښه مې په ياد دي چې په يوه وينا کې يې وويل:

ـنه غواړم چې د خلکو په وينو تر ارګه ورسيږم!

خو مقابل ټيم په هر قيمت تر ارګه رسيدل غوښتل.

کله چې ملت يې خبرې واوريدلې، نو خلک وپوهيدل، چې تر ټولو غوره ټاکنه يې کړې ده او پر خپله ټاکنه به هيڅ وخت پښېمانه نه شي.

ښکلا لاسونه ؤمړل په لوی ارمان يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش! چې په هغه ټولټاکنو کې ما هم خپل قانوني عمر پوره کړی وای، چې له لسم ولسمشر څخه مې ملاتړ کړی وای، اوس به زه هم له دې ویاړه برخمنه وم، پر خپله ټاکنه به مې ویاړ کولو او په زغرده به مې ویل:

زما ټاکنه یو روښانه راتلونکی!

الماس سر وښوراوه، ویې ویل:

اوس خو دې عمر پوره کړی دی. که غواړې په راتلونکو ټول ټاکنو کې ترې ملاتړ وکړه! هغه هم په شعوري ډول نه په پټو سترګو!

ښکلا په بیړه وویل:

په راتلونکو ټول ټاکنو کې بیا نوماند کیږي؟

الماس لاسونه وغځول، د وجود شخي یې و ایستله، یوه شیبه غلی ؤ بیا یې وویل:

هو لورې! په دې دوره کې یې ځینې کارونه نیمګړي پاتې دي. څوک یې کارته نه پریږدي. غواړي خپل نیمګړي کارونه په دویمه دوره کې بشپړ کړي.

د ښکلا په مخ کې بیا سوروالی پیدا شو. سترګې یې وځلیدې، له خوښۍ یې ژبه هم بنده بنده کېدله. په نیمه ژبه یې وویل:

واه ـ واه! زه څومره نیکمرغه یم، د داسې اتل ملاتړ کولای شم، چې لاسونه یې د ملت په وینو نه دي ککړ! او تل به په خپل ملاتړ ویاړ کوم، نه شرم!

الماس بیا په تصویر کې سترګې ونیولې. یوه شیبه غلی ؤ، بیا یې ښکلا ته مخ ور واړولو، ویې ویل:

ښکلا بچۍ غواړم دا خبرې هر افغان انسان ته وکړم.

ښکلا هم پرته له ځنډه د پلار خبره داسې غبرګه کړه:

پلاره!

ـ ډېرې ښې خبرې دي. په دې خبرو باید هر افغان انسان ؤپوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس بیا خبرو ته خوله جوړه کړه. خپلې خبرې یې وغځولې:

زموږ په تاریخ کې د قدرت لېږد په یوه خونړۍ جګړه اوښتی دی. ارګ یا مرګ شعارونه ورکوو. له یو بل سترګې وباسو؛ لیکن دا ځل لسم ولسمشر په داسې یو مهارت تر ارګ ورسیده، چې یو څاڅکی وینه هم په کې تویه نه شوه. دا هغه څه دي چې زموږ په تاریخ کې ساری نه لري! نو لسم ولسمشر تاریخ ته بدلون ورکړ او ټولو نړیوالو ته یې د قدرت ترلاسه کولو هنر په ډاګه کړ!

ښکلا بیا حوصله وبایلله له خولې یې ووتل:

ـ که لسم ولسمشر ته د "تاریخ بدلوونکی ولسمشر" لقب ورکړل شي، نو څه کیږي؟

الماس په شونډو ژبه کش کړه، ویې ویل:

ـ هغه متل دې رایاد کړ، چې زه دې پوزه غوڅوم او ته چارګل غواړې! هاهاها

دا پردیپال یې په قدرت کې نه شي زغملی او تاسو د تاریخ بدلوونکي لقب تمه ترې کوئ! زه همدا غواړم چې د نوي نسل غوږونه خلاص کړم، ځکه چې همدومره پردیپالنه بسنه کوي، چې خپل هېواد مو خچ پچ کړو او نور هېوادونه مو اباد کړل. نور یې نه شو زغملی. نور باید دوست او دښمن وپېژنو.

الماس د چای پیاله پورته کړه، چای ښه سوړ شوی ؤ، ټول یې په سر واړاوه.

ښکلا له ځایه پورته شوه چاینک ته یې لاس ور وغځولو په مخ یې بیا ویښتان را خواره شول چاینک یې را پورته کړ، ویښتان یې وڅنډل، سترګې یې وځلیدې، خو الماس په خپله پیاله لاس کېښود، نه یې غوښتل چې نور چای وڅښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا چاینک په خپل ځای کېښود، په خپله پیاله یې سترګې ښخې شوې، د پیالې د ننني غاړې ژېړه توه نیولې وه، چای په کې خپل رنګ بدل کړی ؤ.

الماس غلی ؤ، ښکلا د چای پیالې ټولې کړې، پتنوس یې تر پخلنځي ورساوه، په بېړه راغله.

الماس له ځایه پورته شوی ؤ او د ښکلا پر ځای یې له تصویر سره خبرې پیل کړې وې:

ـ کاش چې خپل عمر مې درکولای شوای!

اراده دې فولادي ده خو عمر دې هم فولادي شه!

افسوس چې ما د خپل وجود غړي در کولای شوای، چې ستا کمزوری او ډنګر وجود مې غښتلی کړی وای!!

کاش چې ما دا هر څه کولای شوای!!!

خو یو څه کولای شم! هغه دا چې:

ـ ټول ځوانان را ویښ کړم.

ستا وطن پالنه ورته وښیم.

ستامیړانه او همت ورته څرګند کړم.

او ستا له پوهې یې خبر کړم.

که هغه زما د سر په بیه هم وي!!

الماس را وګرځید، په خپل ځای کې یې ډډه ؤ وهله، په سترګو کې یې مظلومو اوښکو د همت ځلا کوله!!

د ښکلا په سرو غمبورو هم مړې مړې اوښکې روانې وې او د پلار تر څنګ کښیناستله.

الماس خبرو ته خوله جوړه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لسم ولسمشر ته په داسې شرايطو کې مشرتوب ورغاړې شو، چې د نهم ولسمشر په کاري ميز دوه دوسيې ايښې وې او د لسم ولسمشر د راتلو په تمه وې.

ښکلا د دوو دوسيو په اوريدلو حيرانه غوندې شوه. ژر يې وويل:

د څه شي دوسيې!؟

الماس خبره را لنډه کړه:

نهم ولسمشر لويه عنعنوي جرگه را وغوښتله، چې ستراتيژيک تړون لاسليک کړي او که نه؟

لويې عنعنوي جرگې پريکړه وکړه چې:

دا تړون دې لاسليک شي، خو نهم ولسمشر په يوه موزه کې دوه پښې ځايولې او تر اخيره يې هغه تړون لاسليک نه کړ. لسم ولسمشر ته يې په تمه کړی ؤ.

ښکلا بيا ؤپوښتل:

له دې څخه د نهم ولسمشر موخه څه وه؟

الماس سترگې راپورته کړې ويې وويل:

بل ئې څه موخه وه، خو غوښتل يې چې لسم ولسمشر دې د افغانانو په وړاندې په دې تور تورن کړي، چې له يو کفري هېواد سره يې تړون لاسليک کړ او د دښمن ژرندې ته يې اوبه زياتولې، چې دښمن د عامو او نالوستو هېوادوالو په ذهن کې دا زهر وشيندي، چې لسم ولسمشر د واک په لومړۍ ورځ له يو کفري هېواد سره د دوستۍ لاس يو کړ!

ښکلا نهم ولسمشر سم نه و درک کړی، نو ځکه يې وپوښتل:

پلاره! نهم ولسمشر او دومره بد نيت؟

الماس را لنډه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو لورې!

خپلو خبرو ته راګرځم:

دويم دا چې د پغمان د پيښې عاملينو د اعدام حکم يې ځکه ورته په تمه کړی ؤ چې، لسم ولسمشر د قدرت پيل په داسې يوه کړنه وکړي، چې ملت يې وحشت بولي!! او له لسم ولسمشر څخه يې کرکه پيدا شي.

خو لسم ولسمشر په دواړو کاغذونو د قلم تېره څوکه کېښودله او د اتل په څېر يې دواړه لاسليک کړل.

د هرې ورځې په تېرېدو سره يې لويې لويې لاس ته راوړنې درلودلې چې ملت به يې هيڅ تمه نه لرله. تر ټولو ښه پريکړه يې دا وه چې:

ـ د نهم ولسمشر پر کابينې يې باور نه لرلو، ځکه يې په خپله کابينه کې هيڅ ارزښت ور نه کړ. د نهم ولسمشر د کابينې غړو په همغه ورځ په سپکو سپورو پيل وکړ، هغه دې اوس يې هم کوي!!

د ښکلا په تندي کې ګونځې پيدا شوې په حيرانتيا يې وپوښتل:

دا خلک ولې داسې کوي؟

الماس غاړه تازه کړه ويې ويل:

واه زما ليونۍ لورې! له قدرت يې لاس وختلو!

الماس بيا مسکی شو، په خپلو خبرو يې پيل وکړ:

لورې اوس به يې په لاس ته راوړنو خبرې وکړو، ستا پوښتنې به هم ځواب شي، خو که لومړی يې له اقتصادي برخې پيل کړو ښه به نه وي؟

ښکلا سترګې پټې کړې بيا يې وغړولې، ويې ويل:

سمه ده پلاره.

الماس خپلې خبرې پيل کړې:

لسم ولسمشر د واک په لومړيو وختونو کې وويل:

زه به افغانستان په اقتصادي څلور لارې بدلوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واقیعت دی چې افغانستان یې په اقتصادي څلور لارې بدل کړ.

ښکلا د څلور لارې په اوریدلو سره لږه حیرانه شوه، ویې پوښتل:

پلاره!

هغه څنګه؟

الماس د لاس ګوتې د سر په ویښتانو تېرې کړې بیا یې وویل:

هغه داسې چې:

له ډېرې مودې وروسته په کابل کې د ریکا شپږمه غونډه جوړه شوه، چې تقریباً د ۷۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو په کې ګډون درلود. د چین، قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او ایران هېوادونو ترمنځ پنځه اړخیزې ریل پټلۍ او د تاجکستان، افغانستان او ترکمنستان هېوادونو ترمنځ د درې اړخیزې د ریل پټلۍ او د لاجوردو لارې باندې خبرې اترې وشوې.

په دې ناسته کې ټولو ګډونوالو په اقتصادي برخه کې له افغانستان څخه د ملاتړ غږ اوچت کړ.

د ښکلا په مخ کې بیا د خوښۍ نښې را بر سیره شوې، په خوښۍ یې وویل:

یعنې اقتصادي ملاتړ مو هم تر لاسه کړ؟

الماس خبره ورغبرګه کړه:

هو لورې!

بیا یې خبرې پیل کړې:

دوه کاله وروسته د عشق آباد په ښار کې چې د ترکمنستان هېواد پلازمینه ده، د ریکا اومه ناسته وشوه، چې په دې ناسته کې د ٦٨ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو د لسم ولسمشر د حکومت له کارونو ملاتړ وکړ.

ښکلا د خبرې په منځ کې ولویده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم بل ډول خلک یو ټوله نړۍ یې له کارونو ملاتړ کوي لیکن موږ ته د منلو وړ نه دی!

الماس پرته له ځنډه خپلې پاتې خبرې را واخیستې:

ـ همدارنګه په دې ناسته کې د افغانستان او ترکمنستان هېوادونو تر منځ د لاجوردو د لارې هوکړه لیک او شپږ نورو سوداګریزو پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

په دې ناستو کې د $CASA$۱۰۰۰ پروژه چې د ختیځې او منځنۍ اسیا څخه جنوبي اسیا ته د انرژۍ د لیږد پروژه ده. په رسمي توګه عملیاتي مرحله یې د تاجکستان په هېواد کې پیل شوه.

نړیوال بانک، امریکا متحده ایالاتو، انګلستان، د اروپایي پانګونې بانک او اسلامي انکشافي بانک ژمنه وکړه، چې د دې پروژې ۱،۱۷ میلیارده ډالره مالي خلاء به ډکه کړي.

ښکلا بیا پوښتنې ته ځان جوړ کړ، ویې پوښتل:

افغانستان ته به د دې پروژې څومره ګټه ورسیږي؟

الماس پرته له ځنډه خپلې خبرې وغځولې:

افغانستان ته به له دې پروژې څخه هر کال له ۴۵ څخه تر ۵۰ میلیونه ډالرو پورې حق العبور ورکول کیږي همدارنګه ۳۰۰ میګا واټه بریښنا څخه به برخمن شي.

آیا ۵۰ میلیونه ډالره او ۳۰۰ میګاواټ بریښنا به مو په اقتصادي حالت اغیزه ونه کړي؟

ښکلا خپلې شنې سترګې د پلار خولې ته نیولې وې یوه شیبه غلې وه بیا یې وویل:

ولې نه هغه متل دی چې له څاڅکي څاڅکي سیند جوړیږي.

الماس خپلو خبرو ته بیا ادامه ورکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاپي $(TAPI)$ نل لیکه چې مجموعي ۱۸۱۴ کیلومتره اوږدوالی لري. له ترکمنستانه پیل د افغانستان د هرات، فراه، نیمروز او سپین بولدک له سیمو تېرېږي، د پاکستان خاورې ته داخلېږي او بیا تر هندوستانه رسېږي. له دې پروژې به هم زموږ هېواد ته هر کال ۴۰۰ میلیونه امریکایي ډالر حق العبور راکول کېږي.

آیا دا د اقتصاد جوړول نه دي؟

آیا دا لاس ته راوړنه نه ده؟

ښکلا بیا په تصویر کې سترګې ونیولې، ویې ویل:

رښتیا چې لسم ولسمشر په بنسټیزو کارونو بوخت دی!

الماس پرته له دې چې څه ووایي خپلې خبرې اوږدې کړې:

د ۵۰۰ $TAP$ پروژه چې له ترکمنستان څخه $MW$ ۱۰۰۰ بریښنا راځي موږ ته به هر کال ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالر حق العبور را کوي.

آیا په دې به مو بودیجه غني نه شي؟

ښکلا د پلار خبره بدرګه کړه، ویې ویل:

ولې نه، اوس مو بودیجه په خپلو عوایدو جوړېږي!

الماس د ټوټاپ پروژې خبره را واخیستله:

د ټوټاپ $(TUTAP)$ پروژه د ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان هېوادونو ترمنځ ګډه پروژه ده. دا هغه پروژه ده چې ۵۰۰ کیلو واټ بریښنا مزي به ترکمنستان د افغانستان له خاورې د پاکستان هېواد ته وغځوي. له ترکمنستان څخه لومړی $MW$ ۳۰۰ او بیا وروسته $MW$ ۱۰۰۰ بریښنا راځي.

د مس عینک او د آمو سیند د نفتو او ګاز د پروژو تړونونه لاسلیک شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا د داسې پروژو تطبیق به مو د نورو هېوادونو له مرستو خلاص نه کړي؟

د ښکلا شونډې وخوځېدې ويې ويل:

پلاره نهم ولسمشر خو له نورو هېوادونو پیسې په سوال راوړې، خو لسم ولسمشر بیا له نورو هېوادونو خپل حق په لوړ سر غواړي.

الماس مسکی شو پرته له کوم ځنډ يې وويل:

هو لورې لسم ولسمشر دا په زباد ورسوله، چې افغانان که هر څومره بې وزله هم وي، د چا احسان پر ځان نه باروي.

لسم ولسمشر خپل افغاني غرور او همت ټولې نړۍ ته څرګند کړ. خو په هر صورت خپلو خبرو ته راګرځم:

له دې وړاندې موږ د هند هېواد سره په دې کچه سوداګري نه لرله لکه دا نن يې چې لرو! د بیلګې په توګه د چابهار له بندره مو وړاندې سوداګري درلودله؟

نه!

اوس هغه ده د چابهار د بندر له لارې موږ د هند هېواد سره خپله سوداګري پیل کړه!

د حیراتان بندر له لارې د مرکزي اسیایي هېوادونو سره ونښلیدلو، چې اسانه کار نه ؤ! که اسان کار وای، نو نهم ولسمشر به کړی ؤ کنه!

الماس بیا یو متل را واخیست:

ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوه سترګې!

موږ هم خپل اقتصاد پیاوړی غواړو هر کله مو چې اقتصاد پیاوړی شو بیا هر څه سمیږي.

بیا يې خبرو ته خوله جوړه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فارياب او هرات ولايتونو د تورغونډۍد آقينې بندرونو څخه پيلېږي او بيا د ترکمنستان له لارې له کسپين بحيرې او گورجستان، ازربايجان او ترکيې له لارې اروپا ته رسېږي. په دې لاره کې سړک، پټلۍ او د سمندري لېږد رالېږد وسايل شامل دي.

د ښکلا شونډې ورپيدې په مړه لهجه يې وويل:

دا خو له ډېرو هېوادونو سره ونښلېدو.

الماس سر وښوراوه پاتې خبرې يې را واخيستې:

د هوايي دهليزونو نوم مو نه ؤ اوريدلی، اوس د هند، اروپا، سعودي، چين، قزاقستان، اندونيزيا او نورو هېوادونو سره د هوايي دهليزونو له لارې سواداگري کوو، په دې برخه کې ۳ ميليونه ډالره لگښت وشو، په داسې حال کې چې د ۱۰۰ ميليونه ډالرو توکي صادر شوي دي، يوازې د چين هېواد ته ۱۰۰۰ ټنه جلغوزي د هوايي دهليزونو له لارې صادر شوي دي!

الماس په خورا خواشينۍ سره وويل:

مال زما خيال د تا!

لږ غلی غوندې شو بيا يې خبرو ته خوله جوړه کړه ويې ويل:

پخوا به زموږ جلغوزي لومړی پاکستان هېواد ته په نيمه بيه صادريدل، بيا به پاکستان په خپل نوم نورو هېوادونو ته صادرول.

الماس وخندل، يوه شيبه غلی ؤ ناڅاپه يې وويل:

عجب ولسمشر دی! د هېواد فضا يې هم کنټرول کړه.

ښکلا له حيرانتيا غلې وه.

الماس زياته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه حیرانیږه د رادار سیستم یادوم. د رادار نوي سیستم له فعالېدلو سره موږ په دې وتوانیدلو چې زموږ خاورې پورې اړونده فضا څخه تېرېدونکو الوتکو څخه د ۳۰۰ امریکایي ډالرو پر ځای ۷۰۰ امریکایي ډالر فیس واخلو!

ښکلا بیا وروځې کش کړې او له خولې یې ووتل:

دا لسم ولسمشر خو ډېر عجیب استعداد لري! له هر پلوه یې عواید را زیات کړل.

الماس خبره په سوړ اسویلي بدرګه کړه:

کاش چې موږ کار ته پرېښودلی وای! هر څوک په هر موقف کې له هر ادرس شکایت کوي، شکایت د یو دود بڼه خپله کړې ده. کله چې په کور کې له میرمنې څخه ډوډۍ هم وسوزیږي؛ نو خاوند یې له لسم ولسمشر شکایت کوي. په همدې موخه زه خپل ځوانان د لسم ولسمشر له کارونو خبروم.

اوس به را وګرځو د پانګونې برخې ته:

پخوا به افغان ملي سوداګرو له هېواده د باندې پانګونه کوله، خو اوس مو ملي سوداګرو دې ته زړه ښه کړی، چې په هېواد کې د ننه پانګونه وکړي، چې د هېوادوالو اړتیاوې پوره کړي، ښې بیلګې یې لکه:

ـ د خان سټیل او میهن سټیل د اوسپنې د ویلې کېدلو فابریکې. په دې برخه کې ۴۰۰ میلیونه امریکایي ډالره پانګونه شوې او ۱۲ زره تنو کارګرانو ته د کار کولو زمینه مساعده شوې ده. دې دوو فابریکو د اوسپنې په برخه کې زموږ د هېواد ۷۰ سلنه اړتیاوې پوره کړې دي.

ښکلا ته هغه وخت ور یاد شو، چې پلار یې د کور جوړولو له پاره روسی سیخ اخیستی ؤ. سترګې یې پورته چت ته ونیوې، ویې ویل:

فکر کوم په دې چت کې مو روسی سیخ کارولی وي. کاش چې په هغه وخت کې دا فابریکې وای!

الماس هم سترګې په چت کې ونیولې، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس له دې نه وروسته موږ د بل هېواد سیخ ته اړتیا نه لرو، خان سټیل او میهن سټیل مو اړتیاوې پوره کولای شي.

الماس خبرې پسې اوږدې کړې:

د الکوزي د غیر الکولي مشروباتو فابریکه هم پرانیستل شوه او د جلغوزیو د پروسس او بسته بندۍ له پاره د "بزرگ افشان" په نوم یوې کارخونې په کار پیل وکړ.

دا ځل د ښکلا په تندي کې ګونځې ورکې وې، په ورین تندي یې وویل:

واه ـ واه وړاندې به مو له پاکستاني او ایراني مشروباتو ګټه اخیستله. ځومره خوند به وکړي، چې د مشروباتو په بوتلونو مو د ګران هېواد افغانستان نوم لیکل شوی وي!!

الماس پرته له څه ویلو پاتې خبره را واخیسته:

د همدې کارونو له مخې مو تېر کال د نړیوال بانک د سوداګري اصلاحاتو په نوملړ کې لومړی مقام خپل کړ!

په هغه صورت کې چې افغانستان د نهم ولسمشر د واکمنۍ پر مهال د نړۍ په سطحه د اداري فساد په نوملړ کې لومړی مقام درلود. ښکلا له خوښۍ تکه سره شوه ویې ویل:

په خدای چې له لوی خجالته یې را ایستلي یو!!

الماس هم د ښکلا خبره تائید کړه، ویې ویل:

هو لورې! لویه بدنامي وه!

الماس خبرې پسې اوږدې کړې:

د صادراتو ستراتیژي یې جوړه کړه د ګاونډیو هېوادونو له اقتصادي انحصاره وژغورل شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور کاله وړاندې مو صادرات ۵۱۲ میلیونه ډالره ؤ. چې سږ کال ۸۸۳ میلیونه ډالرو ته ورسیدل.

ښکلا بیا خوښي وښوده ویې ویل:

واه ـ واه ۳۷۱ میلیونه توپیر!

الماس مسک شو، زیاته یې کړه:

لوی توپیر دی، صادراتو مو ۳۷۱ میلیونه زیاتوالی وکړو!

الماس یوه شیبه غلی ؤ بیا یې خبرې پیل کړې:

د تولیداتو د قاچاق مخه ونیول شوه، اوس مو د هېواد غالۍ، زعفران، جلغوزي او میوې په خپل نوم صادیریږي.

همدارنګه څلور کاله وړاندې مو داخلي عواید ۱۲۱ میلیونه ډالره ؤ، چې سږ کال ۱۸۹ میلیونه ډالرو ته لوړ شول.

د ښکلا خوله د ډېرې حیرانتیا له امله خلاصه پاتې شوه او د الماس خبرې یې غوږ کړې:

په اقتصادي برخه کې مو لوی بدلون کړی! ٦٨ میلیونه مو داخلي عوایدو زیاتوالی کړی دی!

الماس یو سوړ اسویلی و یوست بیا یې لاسونه ؤمږل او ویې ویل:

اخ زموږ ګاونډیو هېوادونو! زموږ په اوبو مو څه مزې وکړې، اوبه زموږ وي او ژرندې ستاسې پرې ګرځیدلې!

ښکلا ځان پوښتنې ته جوړ کړ، ویې ویل:

په دې خبره خو سمه ونه پوهیدلم؟

الماس یوه شېبه غلی شو بیا یې وویل:

داسې وایم چې لسم ولسمشر زموږ اوبه دارنګه مدیریت کړې، چې په دې وروستیو څلورو کلونو کې یې د اوبو ویش په موخه په سلګونه نوي کانالونه، سربندونه، د اوبو ذخیرو شبکې، پلونه او استنادي دیوالونه جوړ کړل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د سربندونو او د اوبو د کانالونو ۵۳۷ پروژې منظورې شوې، چې ٦٦٠ زره کسان به ترې برخمن شي! او د ۱۲۲ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتیا لري!

ښکلا وویل:

هی هی! په شته اوبو کې مو لویې لویې دښتې شنډې پرتې وې!

الماس بیا د اوبو خبره را واخیسته:

په ۳۴ ولایاتو کې د اوبو نویو شبکو سروې تر کار لاندې ده، چې راتلونکې کال تر پایه به بشپړ او ګټې اخیستنې ته وړاندې شي او ۵۰۰ زره کسان به ترې ګټه واخلي!

الماس په چټکۍ سره وویل:

لورې یوې پسې بله رایادیږي.

په شمال کې د خوشتیپي په نوم د هېواد په سطحه تر ټولو لوی کانال پروژه لاسلیک شوه، چې ۵۰۰ زره هکتاره ځمکې خړوبولو وړتیا به ولري!

ـ دوه کاله وړاندې د هرات د سلما بند بشپړ او ګټې اخیستنې ته وړاندې شو، چې هراتیانو په هغه شپه د خوښۍ له لاسه خوب نه کاوه، په سترګو کې یې اوښکو شنه ځلا کوله!

ښکلا ته د هراتیانو خوښۍ خوند ورکړ، ویې ویل:

ځکه خو په هېوادوالو ګران هم دی، بیا یې په لوړ غږ وویل:

لسم ولسمشر د زړونو ولسمشر!

الماس د نورو بندونو په هکله خبرې پیل کړې:

د دایکندي د سوختک بند بشپړ او خلک یې بریښنا ته کښیناستل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدخشان د شورابک، د کونړ د ماښوګي، د کابل د شاه عروس، د هرات د پاشدان او نیمروز د کمال خان بندونو باندې کار روان دی او ډېر ژر به بشپړ او ګټې اخیستنې ته وړاندې شي!

همدارنګه د ننګرهار د کامې بند، د لغمان د ګمبیري بند، د فارياب د دهنه دره بند، د فراه بخش اباد بند، د بلخ تنګي شاديان بند او د سمنګان د آب کیلي بند تر ډیزاین لاندې دي، چې ډېر ژر به ډیزاین شي!

د پکتیا د مچلغو بند، د هلمند د کجکي بند، د فارياب د المار بند، د سرى پل د شورا بند، د سمنګان د شاه عبدالله بند او د کندوز د خان اباد بند تر سروې لاندې دي!

د کابل د شاه توت بند او د بغلان بند تر مطالعې لاندې دي!

ښکلا بيا خوله خلاصه کړه، ويې پوښتل:

پلاره! نو دا نهم ولسمشر کوم بندونه جوړ کړي؟

الماس په غلې او نرمه ژبه وويل:

هيڅ!

بيا يې خبرې وغځولې:

نهم ولسمشر به هر وخت له رسنيو دا خبره کوله چې خارجيان د بنسټيزو کارونو سره مينه نه لري، هر څومره چې د بندونو په جوړولو ټينګار وکړم نه يې مني. دا خبره مې څو ځله د نهم ولسمشر له خولې اوريدلې ده!

د الماس په شونډو خندا راغله، له خندا وروسته يې وويل:

لسم ولسمشر يو ليتر اوبه راته په يو ليتر نفتو بدلې کړې، نو ځکه له ګاونډيو هېوادونو سره د اوبو د کمښت انديښنه پيدا شوه!!

ښکلا ناڅاپه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ۇ پوهیدم چې ولې د ګاونډیو هېوادونو مزدوران د لسم ولسمشر د تخریب په موخه ځینې لنډ تبلیغاتي فیلمونه جوړوي او ځینې بیا تبلیغاتي لیکنې کوي.

الماس د ښکلا خبره غوڅه کړه:

هو لورې د دوی ګټې له خطر سره مخ دي، نو ځکه یې مزدوران تخریب ته لمن وهي.

ښکلا زیاته کړه:

هسې ځان ستړی کوي، اوس ځوانان پوهیږي د تاسو په څېر مشران چې لرو ان شاالله چې له هر څه به مو خبروي.

الماس یوه شیبه غلی ۇ، بیا یې په لوړ غږ وویل:

ژوندی دې وي لسم ولسمشر!!

ښکلا په تصویر کې سترګې ونیولې او بیا یې پلار ته مخ ورواړولو، ویې ویل:

رښتیا چې د لسم ولسمشر په وجود کې لوی ځواک پروت دی او تاسو سمه خبره وکړه، چې د دې تصویر تر شا د ځوریدلي ملت هیلې وینم، چې یو بل ته مسکی کېږي!

ښکلا له ځایه پورته شوه، له دیواله یې تصویر راښکته کړ، د تصویر په ښیښه یې پستې او سپینې ګوتې وهلې او تصویر یې راپورته کړ، بیا یې په تصویر کې د لسم ولسمشر په تندي خپلې نازکې شونډې کېښودلې، ښکل یې کړ، ویې ویل:

پلاره مور ولې نه پوهیږو؟

هغه څوک چې مو له نړۍ سره سیال کوي، نه یې منو! څوک مو چې په پردیو پلوري، له هغه سره بیا خاندو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس د لاسونو له گوتو ټکا ايستله، خبرو ته يې خوله جوړه کړه ويې ويل:

دا څو لسيزې کېږي، چې موږ ته گاونډي هېوادونه سياسي انيستيزي را کوي. ټول نشه يو د خپل او پردي ترمنځ توپير نه شو کولای، تور راته سپين ښکاري او سپين راته تور. دوست دښمن گڼو او دښمن دوست. له اتل مو خاين جوړ کړی او له خاين مو اتل! بس موږ دې خدای ﷻ په سمه لار روان کړي.

ښکلا تصوير په لاسونو کې نيولی ؤ. اوس دا لسم ولسمشر د ټولې نړۍ اتل ورته ښکاريدلو. پلار ته يې سترگې ورواړولې، ويې ويل:

پلاره نه غواړې چې د لسم ولسمشر په هکله نور معلومات راکړې؟ موږ خو له ډېرو خبرو نه يو خبر.

د الماس په شونډو مسکا خوره شوه او په زوره يې وويل:

لسم ولسمشر که زړور ولسمشر؟

ښکلا بيا مسکۍ شوه، ويې ويل:

هر يو چې تاسو خوښ وي پلاره؟

الماس وخنديده، زياته يې کړه:

سمه ده لورې تاسو پوښتنې کوئ، زه به په همغه برخه کې معلومات درکوم.

ښکلا بيا په تصوير خپلې سپينې گوتې کش کړې، ويې پوښتل:

پلاره ځينې خلک وايي چې په دولتي ادارو کې بستونه په پيسو خرڅيږي، د هر بست بيه معلومه ده، دا به تر کومه بريده رښتيا وي او که رښتيا وي نو زړور ولسمشر يې ولې د مخنيوي په موخه څه نه کوي؟

الماس يوه ترخه مسکا وکړه، بيا يې وويل:

اممم زړور ولسمشر!

بيا يې خپلې خبرې وغځولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د خدای ﷻ وشرموي ممکن دا تر ډېره بریده رښتیا وي، ځکه چې زموږ لوړ پوړو چارواکو په داسې یو فاصد نظام کې دندې ترسره کړې، چې اداري فساد یې یوه لویه او ښکاره ځانګړنه وه. نهم ولسمشر به ورته ویل:

غلا وکړه، خو خارج ته یې مه وړه! په همدې هېواد کې پانګونه وکړه.

هر څوک غلا کولو ته وهڅیده. غلا کول یې یو مهارت بللو. له یو چا به دې چې وپوښتل: معاش د څومره دی؟ نو په هسکه غاړه به یې وویل: لس زره مې معاش دی خو دوه ویشت زره افغانۍ په کې جوړېږي! هر چا خپله وکړه او د هر څومره اداري فساد وس به یې چې لرلو نو کاوه یې او دا عمل په یو عادت بدل شو خو له نیکه مرغه چې لسم ولسمشر د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمیسیون کې روڼتیا او پراخ اصلاحات رامنځ ته کړل.

په ډېرو ادارو کې اوس ګمارنه د وړتیا او آزادې سیالۍ له مخې ترسره کېږي. ټول ملکي کار کوونکي به بایومتریک شي، کار پرې روان دی.

همدارنګه ۱۵۸ زره تنه د ملي اردو سرتېري بایو متریک شول.

زموږ ډېرو چارواکو به لسم ولسمشر ته د نهم ولسمشر فکر کاوه او په تمه ؤ چې دغلا کولو او په خپل هېواد کې د پانګولو اجازه ورکړي، خو داسې ونه شول. د فساد د مخنیوي په موخه یې یوه ملي ستراتیژي جوړه کړه، چې لوړ رتبه چارواکي په کې محاکمه کېږي؛ ځکه چې د ټاکنیزې مبارزې بنسټیز ټکي یې د فساد له منځه وړل ؤ! په سلګونه نوي قاضیان وګمارل شول، چې په محاکمو او څارنوالیو کې د پام وړ اصلاحات رامنځ ته شول. ښه بیلګه یې ستره محکمه ده، چې پخوا د فساد ځاله بلل کېدله او اوس له پاکو ادارو څخه یوه اداره ګڼل کېږي!

ښکلا بیا په خوښۍ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



واه ـ واه! دا څومره لوی کار يې ترسره کړی دی، زه يې د پرتله کولو وس نه لرم!

الماس سر وښوراوه خبرې يې پيل کړې:

په ملي دفاع وزارت کې ۱۲۵ د فساد دوسيې چې په ۳۰۷ نفرو پورې اړوند وې وڅېړل شوې، چې ۹۹ دوسيې يې څارنوالۍ ته معرفي شوې.

همدارنګه د ملي دفاع وزارت په قرار داد پاڼو کې له ۱۰ ملیارده افغانيو څخه زياتې افغانۍ وسپمول شوې او ۱۲۳ قراردادي شرکتونه په خپلو ژمنو کې د پاتې راتلو له امله نقدي جريمه شول.

د ښکلا څېره بدله شوه له خولې يې اه ووت:

اه نهم ولسمشر خو قرار داديان سم پړسولي وو!

الماس پرته له ځنډ د ښکلا خبره غبرګه کړه:

نو ځکه خو د هغه وخت ستاينه کوي او د دې وخت غندنه او په لسم ولسمشر پسې سپکې سپورې وايي!

الماس بيا خپلو خبرو ته را وګرځيده:

د کورنيو چارو په وزارت کې هم ۱،۷ ميلیارده افغانۍ وسپمول شوې او د اداري فساد ۲۶۲ قضيې وڅېړل شوې، چې د جنرالانو په ګډون ۱۱۲ تنه مفسدين د فساد په تور لوئې څارنوالۍ ته معرفي شول.

الماس په خندا وويل:

په ځينو برخو کې هيڅ قوانين نه ؤ او په ځينو برخو کې نيمګړي ول د نهم ولسمشر واکمني وه، نو ځکه يې له درو کالو څخه را په دېخوا ۳۹۰ قوانين تصويب او تعديل کړل! د جزا ، ښاروالۍ،کانونو، پټروليم او ګاز نوي قوانين جوړ شول!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو جالبه خو دا وه، چې د کابل بانک له غلو سره يې د حساب خبره راپورته کړه. هغه غلا شوې پيسې، چې د نهم ولسمشر د واکمنۍ پر مهال ترې تم شوې وې، نيمايي يې بېرته را وگرځول شوې!

تر ډېره بريده سيستمونه بايومټريک شول، چې په پارلماني ټاکنو کې هم له بايومټريک سيستم څخه گټه واخيستل شوه!

ښکلا پوښتنې ته خوله جوړه کړه، ويې پوښتل:

ټول ځوانان مو اروپا ته د تگ پر مهال د سمندرونو او نورو زور زياتيو قرباني شول او وايي، چې خپل هېواد مو د بيکارۍ له امله خوشې کړ، دوی تر کومه بريده په حقه دي؟

د الماس تندی تريو شو، په تنده لهجه يې وويل:

هغه ځوانان مزې او چړچې غواړي! په دې ړنگ او لوټه لوټه افغانستان کې د اروپا خوبونه ويني! دولت تېر کال ۳۰ زره ملکي کارکوونکي وگمارل، چې دا بستونه د تيرو ۵ کلونو يعنې د نهم ولسمشر د واکمنۍ پر مهال خالي وو.

د ۳۰ زره ځوانانو گمارنه عادي کار دی؟

آيا دا ځوانانو ته دکار موندنه نه ده؟!

همدارنگه تېر کال د ملکي خدمتونو په اډانه کې د ښځو گډون د ۵ سلنې په زياتوالي سره ۲۷،۵ سلنې ته لوړ شو چې سږ کال به دا کچه ۳۰ سلنه شي!

د ښکلا په مخ کې وينه وتښتېدله ځان يې د يو ځوان په توگه خجالت گڼلو نو څکه غلې وه.

الماس د پوښتنې په بڼه وويل:

نور څه وکړي؟

ښکلا همغسې غلې وه الماس بيا خبرې پيل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانانو ته يې د ورزش په برخه کې قوانين رامنځ ته کړل. د ورزش د قانون مسوده چمتو شوه او په ۵۱ مختلفو رشتو کې مربيانو په فعاليت پيل وکړ. ۵۵۰ تنه ورزش کاران د فدراسيونونو د استازو په توګه وټاکل شول.

الماس غلی شو بيا يې د هغې صحنې کيسه را واخيسته چې پر تلويزيون يې ليدلې وه:

لسم ولسمشر د همدې ځوانانو له پاره د اسيايي المپيک د شورا له ريس سره ليدنه وکړه او د ورزش په برخه کې يې د خپلو ځوانانو ستونزې ورسره شريکې کړې. دا په خپله له ځوانانو سره مينه ده!

ښکلا بيا مسکۍ شوه د خبرې د بدلولو په موخه يې د پلار د خبرو لړۍ ماته کړه، ويې ويل:

فکر کوم چې د ځمکو غاصبين يې ونه ټکول، زمونږ د کلي ملک پيرګل هم ۳۰۰ جريبه ځمکه غصب کړې ده او اوس پارلماني ټاکنو ته هم نوماند ؤ؟

الماس سترګې په چت کې ونيولې، د يو لوی اسويلي په بدرګه يې وويل:

يو پيرګل نه ؤ ډېر ځوانان مې ولېدل، چې په سلګونه نه؛ بلکې په زرګونه جريبه ځمکې يې غصب کړې دي او په دا تېرو پارلماني ټاکنو کې نوماندان هم ؤ. له نيکه مرغه چې يو يې هم بريالی نه شو! پارلمان مو يو ځوان پارلمان شو! له غاصبينو او کمشنکارانو څخه يې ملت وژغورلو!

له هغه پارلمان يې وژغورلو، چې د ټول هېواد اداره يې بې نظمه کړې وه!

ښکلا ؤپوښتل:

پلاره پارلمان خو قانون جوړوونکې قوه ده نو د هېواد اداره يې څنګه بې نظمه کړې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس په تنده لهجه ځواب ورکړ:

تاسو يې نه وينئ، چې په هر ولايت کې لس کلن ريسان رياستونه کوي؟

ښکلا په دې خبره حيرانه شوه ويې پوښتل:

پلاره لس کلن ماشوم خو رياست نه شي کولای، تاسو موخه څه ده؟

الماس وخندل زياته يې کړه:

لورې ماشومان نه يادوم، هغه رييسان يادوم چې لس کاله کېږي په رياست يې خيټه اچولې. ولې قحط الرجال دی. په دې ټول افغانستان کې نور څوک نه شته؟

ښکلا سر وښوراوه د پلار د خبرو لړۍ يې ماته کړه ويې پوښتل:

پلاره! په څه دليل دوی لس کاله په رياستونو خيټې اچولي او نه مړيږي؟

الماس دا ځل په غصه وويل:

دې هر يو ريس د پارلمان د وکيل لمنه نيولې وه، يو هم په وړتيا نه دی راغلی. په ټولټاکنو کې به هر رييس خپل نوماند ته کمپاين کولو. په هيڅ صورت سره رسمې مامور بايد دا کار ونه کړي، نو ځکه يې له رياست شاهي نظام جوړ دی.

ما په خپلو سترگو لېدلي، چې د پوهنې رياستونه په دې کې ډېر دخيل دي. په دې لسو کلونو کې هيڅ ځوان کوم رياست ته لار ونه موندله، همدا پخواني بړيڅي دي، چې له يو رياست څخه بل رياست ته تبديليږي را تبدليږي.

ښکلا په ډېرې ناهيلۍ وويل:

پلاره دا رييسان خو اوس هم په خپلو دندو دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس لاسونه ؤمړل ويې ويل:

که دا ځل لسم ولسمشر په ټول ټاکنو کې بريالی شو نو د ټولو جړې به را وباسي هيڅ پخوانی ريس به په خپل موقف کې پاتې نه شي، د دوی ټولو ټغر به ور ټول کړي. د پوهنې رياستونه به له دې فاسدو چارواکو خلاص کړي.

په هر صورت د ځمکو غصب خبرې ته راګرځم:

په دې وروستيو ۴ کلونو کې ۵۰۰ زره جريبه غصب شوې ځمکه بېرته راوګرځول شوه، همدارنګه د ۱۸۸۰۰ تنو غاصبينو نوملړ قضايي او عدليي اورګانونو ته وليږل شو، چې د جرم په اثباتولو سره به هر غاصب تر لسو کلونو پورې د زندان تورو تمبو تر شا پروت وي!

په لغمان کې د قرغه يې ښارګوټی، په غزني کې سوداګريزې ساحې، په خوست کې د قلموال مينې ښارګوټی، په پروان کې د بيني ورسک ښارګوټی، په بلخ کې د قالين بافانو ښارګوټی، په جلال اباد کې د شيخ مصري ښارګوټی او په کابل کې سپينې نمرې دا ټول له غصب څخه وژغورل شول.

د ښکلا له خولې فرياد ووت:

اه خدايه دا خو ټول افغانستان غصب شوی!

الماس زياته کړه:

هو لورې هر چا د خپلې وسې مطابق چور کړی.

ښکلا غلې وه، په فکرونو کې ډوبه شوه يوه شېبه وروسته يې په ذهن کې د ښوونځي د ديني علومو ښوونکې څېره را وګرځېدله او د هغه، هغه خبره يې را ياد شوه، چې تل به يې په درسي ټولګي کې له لسم ولسمشر ګيله کوله او ويل به يې: دې نظام علماؤ کرامو ته په دولت کې برخه نه ده ورکړې!

نو ښکلا هم همدا جمله را لنډه کړه، ويې پوښتل:

پلاره! علما کرام وايي، چې موږ ته يې په دولت کې برخه نه ده را کړې، آيا دوی رښتيا وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماس تندی تریو شو او رنګ یې هم توربخون شو په تنده لهجه یې وویل:

څه وکړي، ارګ ورته خوشی کړي؟

د ارګ چارې د دوی په غاړه کړي؟

د ارګ او ممبر تر منځ واټن یې صفر کړ. له ډېرو علماؤ سره یې یو شمېر ناستې وکړې او له علماؤ یې وغوښتل، چې د مخدره موادو او فساد په وړاندې له ممبره غږ اوچت کړي، په ایات او حدیث خلک قانع کړي. په تېرو څلورو کلونو کې ئې په ۳۴ ولایاتو کې ۳۳۰ جماعتونه جوړ کړل، همدارنګه ۷۱۲ جماعتونه یې بیا و رغول او ۲۵۰ زره متر مربع فرش او جاینمازونه یې ورکړل، چې همدا اوس مهال په ۱۷ ولایتونو کې د جماعتونو د جوړولو ۶۰ سلنه پروژې تر کار لاندې دي.

علماوو څه وکړل؟

له کوم ممبر یې د مخدره توکو پر وړاندې غږ اوچت کړ؟

د دې خبرو په اوریدلو سره ښکلا ډېره حیرانه شوه وئې ویل:

څومره مضبوط ایمان لري! زه خو اوس په حقیقت ؤپوهیدم.

الماس د ښکلا په سترګو کې سترګې ونیولې ویې ویل:

لورې وخت به دې نوره هم په حقیقت ؤپوهوي.

الماس بیا د علماوو خبره را واخیسته ویې ویل:

د ۳۴ ولایتونو له علماؤ کرامو سره یې د ۳۴ لویو جامع جماعتونو ژمنه وکړه، چې کار پرې روان دی. د دې له پاره چې د علماؤ کرامو حقوقو ته پام وشي، ټول جماعتونه به د حج اوقافو له وزارت سره ثبت شي. تر اوسه ۴۶۳۶ جماعتونه ثبت شوي دي! د هر ثبت شوي جماعت د امام معاش دولت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علماوو ته ئې د سولې په برخه کې هم د پام وړ ارزښت ورکړو.

ښکلا په تصویر گوتې وهلې، یوه شیبه غلې وه، بیا یې سر پورته کړ، ویې ویل:

ـ پلاره! زه د ټولنیزو رسنیو له لارې ډېری د هغو ټولگیو تصویرونه وینم، چې ښوونکي خپل زده کوونکي د یوې ونې تر سیورې لاندې یا په یوه کنډواله کې را ټول کړي وي او د تورې دړې په ټېر د تباشیر په واسطه سپین ټکي کاږي! په دې برخه که رڼا واچوې.

دې خبرې سره الماس په فکرونو کې ډوب شو او د هغه ښوونځي یادونه ور یاد شول، چې څو کاله وړاندې د باروتو لمبې ترې پورته شوې وې او بیا یې زده کوونکو په انگړ کې تر سره لمر لاندې درس ویلو. له نیکه مرغه چې اوس ښه ودانۍ لري. الماس فکرونو په مخه کړو او د ښوونځي تر انگړه یې ورساوه.

خو ښکلا نور فکر کولو ته پرې نه ښود، بیا ئې پرې غږ کړ:

ـ پلاره څنگه غلی یې؟

د الماس له سترگو اوښکې تویې شوې، په جړ غږ یې وویل:

ـ زموږ د کلي سوزیدلی ښوونځی مې را یاد شو، چې تورې سرې لمبې ترې پورته کېدلې، موږ یې سیل کاوه د اور مړکېدو وس مو نه لرلو. د هغه ۷ کلن خیرن او خچن ماشوم اوښکې او څیره مې را یاد شوه، چې سرې سترگې او ببر سر زما په لوري را روان ؤ. په سره مخ یې رڼې رڼې اوښکې روانې وې، له مایې ؤپوښتل:

کاکا زموږ ښوونځی چا وسوځولو؟

ـ له ما څواب ورک ؤ. د ماشوم په ببر خیرن سر مې لاس کش کړ او ومې ویل:

د وطن دښمنانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم بیا خوله خبرو ته جوړه کړه، ویې پوښتل:

ـ کاکا د وطن دښمنانو ښوونځی ویلی؟

ماشوم مې په ځان پسې را نږدې کړو ورته ومې ویل:

نه زویه!

ماشوم په ژړغوني غږ وویل:

نو ځکه داسې کارونه کوي؟!

د ښکلا په سترګو کې هم اوښکې را پیدا شوې، ځکه چې ښکلا هغه وخت د همدې ښوونځي په پنځم ټولګي کې زده کړې کولې.

الماس د دې له پاره چې د ښکلا د سترګو اوښکې وچې کړي، نو د هغې د پوښتنې په ځواب یې پیل وکړ:

ـ دوه کاله وړاندې ۸۸۴ ښوونځي او تعلیمي مرکزونه تاسیس شول.

د ٦۰۰۰ نویو ښوونځیو د ودانیو کار روان دی. ان شاالله چې په ټول هېواد کې به داسې ښوونځی پاتې نه شي چې ودانۍ به ونه لري.

الماس لنډه ساه واخیسته بیا یې وویل:

نه یواځې د ښوونځیو په کمیت یې کار کړی بلکې کیفیت ته یې هم خورا ډېر پام کړی، د بیلګې په توګه:

په اول وخت کې د لیسانس ښوونکو شمېر ۲۳ زره تنه ؤ خو دوه کاله وروسته د لیسانس ښوونکو شمېر ۲۷،۵ زره تنو ته ورسیده.

ښکلا ډېره ښه حافظه لرله او د ټولګي اول نمره وه. په ټولو مضامینو کې به یې ښې نمرې اخیستلې؛ خو د خپلې خوښې څانګې په هکله یې له پلار سره څه نه ؤ ویلي، ځکه پلار یې غوښتل چې ښکلا باید په راتلونکې کې یوه ښه مسلکي استاده شي؛ لیکن د ښکلا په زړه کې نور څه ؤ، غوښتل ئې چې په راتلونکې کې یوه تکړه ډاکټره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا به تل خپلو ټولګیوالو ته ویل:

زه غواړم چې طب پوهنځي ته بریالۍ شم، خو د کانکور له ازموینې ویریږم! ځکه زما پلار دومره پیسې نه لري، چې زه دې د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالۍ شم!

ټولګیوالو به یې هم تل دا شکایت کاوه، چې تېر کال هم د کانکور په ازموینه کې دا زمینه مساعده شوې وه، چې د پیسو په مقابل کې نفر پیدا کیږي، چې ستا پر ځای کښیني او ټولې پوښتنې درته حل کړي، ځکه هغه نفر د پوښتنو ځوابونه د کانکور له کمیټې اخلي!

نو ښکلا هم دې خبرو ځوروله او کله ناکله به یې ویل:

ـ هسې ځان نه ځوروم، اکثریت لایق زده کوونکي په دې ازموینه کې پاتې کیږي، یا داسې پوهنځي ته یې ورکوي، چې هغه یې د خوښې وړ پوهنځی نه وي، نو ځکه یې له پلار ؤپوښتل:

ـ پلاره د کانکور په ازموینه کې به فساد له منځه یونسي؟

الماس وخندل بیا یې وویل:

ـ واه! لورې تر اوسه نه یې خبره؟

ښکلا په بیړه وویل:

ـ نه پلاره له څه؟

الماس بیا وخندیدو او ویې ویل:

ښه سمه ده نو واوره:

پخوا به دټولو زورواکو او شتمنو وګړو اولادونه چې ډېر تنبل به هم ؤ، د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالي کېدل، چې په علت خو یې هسې هم پوهیږې او د نیستمنو وګړو اولادونه به د لوړو نمرو په ترلاسه کولو سره بیا هم ناکام اعلانیدل، خو اوس د کانکور د ازموینې پروسه یې هم بایومټریک کړه، چې د ګډون کوونکو نوم لیکنه به د بایومټریک له لارې ترسره کیږي. پوره رڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. اوس هر څوک په خپل لیاقت د بریا تر پولې رسیږي! پخوا به هر زور واکې په خپل زوی په هر قیمت به چې ؤ، د حقوقو پوهنځی لوستلو آن په پوهنتونونو کې یې له اولادونو څخه نجونې محصلینې په تکلیف وې. په ورځ کې به یې شپاړس نجونو ته د مینې وړاندیز کاوه، د درس په غم کې هیڅ نه ؤ او د استادانو زور هم نه پرې رسیدلو.

د ښکلا مخ له خوښیو تک سور شو، په لوړ غږ یې وویل:

څومره ښه! اوس به هر زده کوونکی په خپله خپلې پوښتنې حل کوي!

الماس بیا په خبرو پیل وکړ:

د لسم ولسمشر د واکمنۍ په لومړي کال کې د کانکور دګډونوالو د ناکامۍ سلنه له ۴۵ څخه ۱۳ ته را ټیټه شوه. یعنې وړاندې به د کانکور په ازموینه کې تقریباً نیمایي زده کوونکي ناکام اعلانیدل؛ خو له نیکه مرغه چې د تېر کال په ازموینه کې ۱۶۹،۵ زره تنو ګډون کړی ؤ، چې له دې ډلې ئې ۱۴۷،۵ زره تنه ګډونوال پوهنتونونو ته جذب شول.

دوه کاله وړاندې د کانکور ازموینه په هېواد کې د کانکور لومړنۍ ازموینه وه، چې ټولو هېوادوالو ته د منلو وړ وه.

الماس لاسونه وغځول د وجود شخي یې و ایستله، یوه شېبه غلی ؤ بیا یې په خبرو پیل وکړ:

نه یواځې په ملکي پوهنتونونو کې د پام وړ اصلاحات راغلل بلکې د هېواد په هوایي پوهنتون کې ۳۰۰ تنه زده کړیالان په زده کړو بوخت شول او له ۲۰۰ تنو څخه زیات له هېواده د باندې په نورو هېوادونو کې په همدې برخه کې زده کړې کوي، چې دا هم د ملکي پوهنتونونو په جذب د پام وړ اغیزه کوي.

ښکلا د پلار خبرې غوځې کړې ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوم په پوهنتونونو کې د استادانو د تقرر په برخه کې ځینې ستونزې شته لکه د ماستري نه لرل؟

الماس خبره ور غبرگه کړه:

نه لورې! په ډېرو پوهنتونو کې موږ ډېر داسې استادان لرو، چې علمي سویه یې د اندیښنې وړ ده، په واسطو گمارل شوي دي اوس یې رسمیت اخیستی بله چاره نه لري، نو د هغوی له پاره لسم ولسمشر فرمان صادر کړ، چې د پوهنتونونو ټول استادان باید ماستري تر لاسه کړي او هغه څوک چې ماستري نه لري، باید په پوهنتون کې استاد نه شي. همدارنگه د استادانو شمېر له ۳۱۵۹ څخه ۵۵۸۲ ته لوړ شو.

د ښکلا له خولې د خوښۍ یو لوړ غږ ؤوت:

اه پلاره  څومره ښه!

دا څومره ښه ولسمشر دی! په هره برخه کې یې یو څه کړي!

لسم ولسمشر نه بلکې تر ټولو غوره ولسمشر!! زه نه پوهیدم چې ځینې ځوانان ولې د زرکلن دعا ورته کوي؟ خو اوس ؤپوهیدلم!

د ښکلا  مخ لکه انار سور واوښت  او په غمبورو کې یې هم  ژورې کندې جوړې شوې. یو فکر په مخه کړه چې د کانکور په ازموینه کې د طب پوهنځي ته بریالۍ شي او د لومړي سمستر د درس لومړی ورځ یې وي، ټولگي ته د ننه شي، سپینه چپنه یې په تن وي. طلایي ویښتان یې په سپینه چپنه خواره واره پراته وي سترگې یې شنې ځلېږي او ټول په خپلو چوکیو کښیني. د مسکا په نوم یوه استاده راشي او وړاندې تر دې چې په درس پیل وکړي، نو خپلو محصلینو ته وایي:

ـ د خپلې خوښې پوهنځي ته مو د بریالیتوب مبارکي درته وایم!

الماس د ښکلا په ورانه لاس کېښود، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته وایم د خپلې خوښې پوهنځي ته مو د بریالیتوب مبارکي درته وایم!

ښکلا رابیداره شوه او په دې ؤپوهیدله، چې مبارکي مې پلار راکړه نه د مسکا په نوم استادې!

الماس هم لکه چې د ښکلا له زړه خبر ؤ نو ځکه یې وویل:

د تېر کال په پرتله روغتیایي مرکزونو ته لاس رسی۸۷ سلنه زیات شوی دی چې په ټول هېواد کې ۲۴۰۰ روغتیایي مرکزونه لرو!

په خوست کې د شیخ زاید ۱۰۰ بستریز روغتون، پکتیا مرکز ګردیز کې ۱۰۵ بستریز روغتون، بامیانو کې ۱۴۰ بستریز روغتون، په پنجشیر کې یواځې د ښځو له پاره ۱۲۰ بستریز روغتون، په سرپل کې ۱۰۰ بستریز روغتون او په کابل کې د سوري زړه د ناروغانو د تداوي له پاره ودانۍ جوړې شوې.

یواځې د سرطاني ناروغیو د تداوي په برخه کې تقریباً ۳،۵ زره ناروغان تر درملنې لاندې نیول شوي دي، چې وړاندې به د عادي ناروغۍ د درملنې له پاره هم ګاونډیو هېوادونو ته تللو.

الماس غاړه تازه کړه. یوه شیبه غلی شو ، بیا یې وویل:

تر ټولو جالبه واوره:

ښکلا د دې خبرې په اوریدلو سره غوږونه څک کړل. ښه متوجه شوه.

الماس خپلې خبرې وغځولې:

نهم ولسمشر به هغه طبقه خلکو ته چې پونده دی او په باندو کې ژوند کوي د ژوند ټوله هستي او نیستي یې په یوه کېږدۍ کې راټوله کړې وي یواځې د ټول ټاکنو پر مهال د رایې ورکولو د حق خبرې کولې، نور یې ستونزې چا نه لېدلې او نه یې اوریدلې، لیکن لسم ولسمشر د دې خلکو روغتیا ته پاملرنه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو لومړيتوب وګڼلو هغه دې له ۵۰۰ زرو څخه زيات ګرځنده کلينيکونه دې طبقې ته صحي خدمات وړاندې کوي.

ښکلا د روغتيايي خدماتو په اړه هم واوريدل، نو په خيالونو کې ډوبه شوه او داسې يې احساس کړه، چې ګوندې د يوې شفاخانې سرطبيبه شوه او په يوه رابلل شوې غونډه کې له خپل پرسونل سره خبرې کوي، چې د الماس د ټوخي غږ يې خيالي نړۍ دړې وړې کړه.

بيا يې تصوير پورته کړ او د لسم ولسمشر تندى يې ښکل کړ، ويې ويل:

پر موږ خداى ﷻ لوى احسان کړى، چې لسم ولسمشر يې را په برخه کړى دى.

الماس لاسونه ؤموږل او ځان يې خبرو ته جوړ کړ:

هو لورې دا د خداى ﷻ لوى احسان دى، چې موږ يې د کورنۍ جګړې د اتلانو له شره وژغورلو.

ښکلا تندى تريو شو ويې پوښتل:

پلاره! کورنۍ جګړه هم اتلان لري؟

د ښکلا پوښتنې الماس په غصه کړ نو ځکه يې وويل:

ـ په دې خاوره هغه څوک اتل دى چې وژل يې زده وي!

ښکلا سر وښوراوه، ويې ويل:

امممم ؤپوهيدم، رښتيا چې دا د کورنۍ جګړې اتلان دي.

الماس يوه شيبه غلى شو، بيا يې خپلې خبرې وغځولې:

هو لورې! دې اتلانو خو د افغانستان لوټې هم په پاکستان ؤپلورلې او خپلو بادارانو ته وفادار پاتې شول. ټول موزيمونه يې چور کړل، د لاهور او اسلام اباد موزيمونه يې پرې ډک کړل. خو لسم ولسمشر په هغه څه ګوتې ووهلې، چې د ملي لېوانو له ښکار پاتې او لږ زيانمن شوي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړنیو درو کلونو کې ۴۷ پروژې وې، چې باید ترمیم شي. له دې پروژو څخه ۳۵ موارد یې تکمیل شوي دي، د دې پروژو لویې برخې د دارالامان ماڼۍ وه چې بیا ورغول شوه، په جلال اباد کې د غازي امان الله خان مقبره، د فخر افغان یعني د خان عبدالغفار خان مقبره او د جلال اباد د شاهي ماڼۍ بیا رغول ؤ، چې د خپلواکۍ سلمې کلیزې پورې به د اماني دورې ټول آثار ورغول شي.

الماس ژوره ساه واخیسته یوه شیبه غلی ؤ بیا یې وویل:

اه یو وخت ؤ چې د بامیانو له بودا څخه خړې دوړې پورته شوې. د بیم چل په ګولیو لوټې لوټې شول او لوټې یې د ګاونډي هېواد پاکستان ته لاړې چې په دې کار سره د بامیانو سیمه بدرنګه شوه، لیکن لسم ولسمشر د بامیانو سیمې ته بیا ښکلا راوړه. بامیان د جنوبي اسیا هېوادونو د فرهنګي مرکز په نوم وټاکل شو!!

ښکلا په چورتونو کې د بامیانو ولایت ته ورسیده، هلته یې د بودا په ځایونو سترګې ښخې کړې، له تورو سوړو پرته یې بل څه ونه لېدل.

الماس پښه را ټوله کړه، خبرو ته یې خوله جوړه کړه، ویې ویل:

لورې!

ښکلا سترګې راپورته کړې ویې ویل:

اورم پلاره!

الماس د ښکلا په سترګو کې سترګې نیولې وې، ویې پوښتل:

چېرې چورتونو په مخه کړې وې؟

ښکلا خبره را لنډه کړه:

هسې د هېواد د امنیت په هکله مې فکر کاوه، چې ولې هره ورځ وژل کیږو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماس په ذهن کې د بمي چاودنو تصویرونو تلل او راتلل پیل شول، یوه شیبه غلی ؤ په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې او ویې ویل:

هره ورځ یې وینم چې بې شمیره هېوادوال مو وژل کېږي او لسم ولسمشر یې هم ویني خو پوښتنه دا ده چې:

دا وژنې څوک کوي؟!

په دې وژنو کې د چا لاس دی؟!

دا ټول موږ او تاسو یو. که چېرې موږ دا زمینه مساعده نه کړو، هیڅ څوک مو نه شي وژلی! د نړۍ پر مخ موږ یو باغیوره او با غیرته ملت یو هیڅ څوک به دا جرئت و نه کړي چې موږ ته په کږه سترګه هم وګوري!

په تېرو ۱۳ کلونو کې د زورواکۍ جزیرې جوړې شوې وې، تاسو یې ویډیوګانې ونه لېدلې، چې د ملت کور یې په سپیو تلاشي کړ؟ د ملت د استازو توهین یې وکړ!

د تلاشي په محل کې یې سرتېري په مرګ ؤ نه وهل؟!

تاسو ونه لېدل چې د موټر د تورو ښېښو د سپینولو پر وخت یې سرتېري په څپېړو ؤ وهل؟

له رسنیو مو ونه لېدل، چې د ولایت امپراتور ئې ځان بللو؟

همدارنګه په یو وخت کې په څو ولایتونو کې داسې والیان پیدا شول چې ویل به ئې:

زه ولسمشر په رسمیت نه پیژنم!

خو لسم ولسمشر د زورواکانو هغه جزیرې دړې وړې کړې، چې په همدې چاودنو، وژنو، اختطاف او نورو فسادونو کې ئې لاس ؤ. امپراتورۍ یې له منځه یوړې. د هېواد امنیت ټینګولو په موخه هغه کارونه وشول، چې وړاندې نه ؤ شوي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر کال یو څلور کلن امنیتي پلان جوړ شو، چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې به د افغان کماندو ځواکونو شمېر دوه برابره شي، هوایي ځواک به هم درې برابره شي، ۳۰۰ الوتکې به ولري، چې تر اوسه یې ۱۵۰ بلک هاک، ۵۵ د $MD530F$، ۲۵ د $A29$ لیزري توغندي ویشتونکې او یو څو عدده بې پیلوټه الوتکې ترلاسه کړي دي.

همدارنگه تر پنځو راتلونکو کلونو پورې به ۳۶۰۰۰ سیمیزه اوردو جوړه شي.

وړاندې به افسران د روابطو له مخې گمارل کېدل، چې دا پخپله د امنیت گډوډول ؤ لیکن اوس په امنیتي سکتور کې د گمارنې بورډ جوړ شو، چې افسران د ضوابطو له مخې گمارل کېږي نه د روابطو له مخې! د خیالي سرتېرو د مخنیوي له پاره ټول سرتېري بایو مټریک شول او تېر کال ۲۰۰۰ زاړه افسران او جنرالان متقاعد شول چې پر ځای یې نوي ځوان مسلکي افسران وگمارل شول. وړاندې به سرتېري په سنگرونو کې پراته ؤ، هیچا یې غم نه کاوه. اوس به د *Army Personnel Payment System* له لارې خپل معاشونه اخلي، چې کارونه یې تقریباً ۸۰ سلنه بشپړ شوي دي، چې دا هم د امنیت په ټینگښت د پام وړ اغېزه کوي.

د سرحدي ځواکونو د ښه اداره کېدلو په موخه نوموړي ځواکونه د کورنیو چارو وزارت څخه په ملي دفاع وزارت پورې اړوند شول.

امنیت مو له پخوا ډېر ښه شوی دی.

ښکلا د پلار خبره غبرگه کړه ویې ویل:

په نظامي برخه کې یې هم د پام وړ اصلاحات راوستلي دي!

الماس پرته له څه ویلو بیا په خبرو پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان يې د دې وړ کړ چې له نورو هېوادونو او سازمانونو سره ښې اړيکې ولري، لکه: د ۱۳ نړيوالو سازمانونو غړيتوب خپلول.

ښکلا د سازمانونو په هکله معلومات نه لرل، د پوهولو په خاطر يې وويل:

د سازمانونو غړيتوب؟

الماس په وياړ خبرې پيل کړې:

هو لورې وايم يې:

په لومړي ځل مو د نړيوال گمرکاتو (WCO) سازمان غړيتوب ترلاسه کړ.

په دويم قدم کې مو د نړيوالې سوداگرۍ بانک(WTO) سازمان غړيتوب ترلاسه کړ.

په درېيم قدم مو د مخابراتو د ټولنې يعنې RCC غړيتوب ترلاسه کړ.

په څلورم قدم کې مو د ISF غړيتوب ترلاسه کړ.

په پنځم قدم کې مو د نوښت وړ انرژي بين المللي مرکز (IRENA) غړيتوب ترلاسه کړ او لسم ولسمشر په خپله يوه وينا کې وويل:

افغانستان د دې وړتيا لري چې ۳۱۶ زره ميگا واټه برېښنا د اوبو، باد او لمر له لارې توليد کړي.

د ښکلا په مخ کې د خوښۍ ځرک را پيدا شو او له خولې يې ووت:

وا ه ـ واه! رښتيا چې لسم ولسمشر د دې تيارو ځلانده ډيوه ده!

الماس هم مسکی شو ، خپلې خبرې يې اوږدې کړې:

په شپږم قدم کې مو د OGP غړيتوب ترلاسه کړ. د دې سازمان غړيتوب سره موږ د خپل هېواد د نفتو او گازو د توليد په برخه کې گټه اخيستلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوم قدم کې مو د اسیا زیربنایي پانګونې بانک (AIIB) غړیتوب ترلاسه کړ، چې د دې سازمان موخه په اسیایي هېوادونو کې د زیربنایي پروژو مالي ملاتړ دی.

په اتم قدم کې مو د لویو بندونو کمیسیون (ICOLD) غړیتوب ترلاسه کړ. د دې سازمان په غړیتوب سره به موږ خپلې اوبه مدیریت کړو.

په نهم قدم کې مو د نړۍ د ښاري حکومتوالۍ سازمان (GC) غړیتوب ترلاسه کړ.

په لسم قدم مو د اوبو سازمان (IWA) غړیتوب ترلاسه کړ.

په یوولسم قدم کې مو د کرکټ نړیوالې شورا (ICC) غړیتوب ترلاسه کړ.

ښکلا بیا د الماس خبرې پرې کړې، په خورا حیرانتیا یې وپوښتل:

اه تر اوسه مو د کرکټ نړیوالې شورا غړیتوب نه لرلو؟

الماس پرته له څه ویلو لنډ وویل:

نه!

ښکلا شونډې بوڅې کړې بیا یې وویل:

بس نو د نهم ولسمشر واکمني وه.

الماس بیا په خبرو پیل وکړ:

په دولسم قدم کې مو د الکتروني حکومتوالۍ سازمان (WeGO) غړیتوب ترلاسه کړ.

په دیارلسم قدم کې مو د بشر حقوقو ټولنې سازمان (UNHRC) غړیتوب ترلاسه کړ.

د ښکلا د تندي پوستکي ګونځې وکړې ، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاره! نو دا خلک ولې شکایت کوي، هره ورځ یې له رسنیو وینو چې، بد رد وایي او د لسم ولسمشر په لاسته راوړنو ولې خاورې اړوي او منکر دي؟!

د الماس په تندي خولې راماتې وې، تور واوښتلو، ویې ویل:

گوره لورې! همدې پردي پالو په برښنایي پېژند پاڼو کې پر اسلامیت او افغانیت خاورې اړولې، هم له اسلامیت منکر شول او هم له افغانیت؛ نو د لسم ولسمشر له لاسته راوړنو څخه منکر کېدل او خاورې پرې اړول خو دومره لویه خبره نه ده!

په یوې پسې بله رایادېږي، همدا لسم ولسمشر ؤ چې د بریښنایي پېژند پاڼو وېش ته یې زمینه مساعده کړه او د ویش لړۍ یې پیل شوه. اوس یواځې په کابل پورې اړوند دی، چې تر اوسه یې ۱۰۰ زره کسانو ته بریښنایي پېژند پاڼې ویشلي دي او درې برابره نورو کسانو فورمونه اخیستي دي.

د پاسپورټ د ویش لړۍ چې وړاندې به مو په دوه میاشتو کې یو پاسپورټ نه شو تر لاسه کولای او د پاسپورټ د ریاست مخ ته به د کمیشنکارانو شین غورځی ؤ، لیکن اوس یې ټول وینو، چې په دوه ورځو کې پاسپورټ اخیستل کېږي او په نوم کمیشنکار نشته او د پاسپورټ په ریاست کې د پام وړ اصلاحات راغلي دي.

ښکلا ته هغه وخت ور یاد شو چې مور او پلار یې ناروغ ؤ. د پاکستان هېواد ته په تداوي پسې تلل. د پاسپورټ د اخیستلو پر مهال له ډېرو ستونزو سره مخ ؤ، د پاسپورټ په اخیستلو ونه توانیدل. یو کمیشنکار ورته وویل چې په ۸ ورځو کې به یې درته واخلم درې سوه ډالره لگښت پرې کېږي! خو الماس دې معاملې ته زړه ښه نه کړ. د سیمي یو ډاکټر یې غوره وبللو.

ښکلا یوه شیبه غلې وه بیا یې ناڅاپه خوښي وښودله ویې ویل:

واه ـ واه دا څومره ښه ده!

الماس بیا خپلې خبرې وغځولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېر کال د کب نهمه نیټه یې د سرتېرو په نوم یاده کړه، چې د دې ورځې په نومولو سره یې د سرتېرو مورال نور هم غښتلی کړ او د سرتېرو له فکر او خیال څخه دا خبرې لرې شوې، چې ویل به یې:

د هغه ملت ساتنه کوو، چې په ساتنه نه ارزي!!

لسم ولسمشر خپل پوځ ته د "تومو" خبره وکړه:

ښه روزل شوی وسلوال پوځ غره ته نه وایي چې ولې لوړ یې؟ یا په کې دره پیدا کوي یا یې څنګ کې د تېرېدو لار لټوي او که نه شو نو سوری کوي یې!

الماس یو سوړ اسویلی ویوست، ویې ویل:

تر ټولو دردوونکې دا ده چې هېواد مو د یتیمانو او کونډو ځاله ده نو ځکه لسم ولسمشر د بې سرپرسته ماشومانو د ساتلو او روزلو له پاره په منظم ډول ٦٣ خصوصي او دولتي روزنتونونه جوړ کړل. همدارنګه ۲۱۸۴ تنه بې موره او بې پلاره ماشومان د کفالت ایتام برنامې څخه برخمن شول.

د دې خبرې په اوریدلو سره د ښکلا له سترګو اوښکې توئې شوې، ځکه یو کال وړاندې ښکلا هم د مور له مینې بې برخې شوې وه.

الماس چې د ښکلا اوښکې ولیدې ژر ئې خبره بدله کړه، ویې ویل:

لسم ولسمشر ته یوه ډېره بده حکومتوالي په میراث ور پاتې وه؛ نو ځکه خو یې وویل:

خبره دا نه ده چې ماته څه په میراث را پاتې دي؟ دا قضاوت به تاریخ وکړي چې ما دې میراث ته څومره بدلون ورکړ! په هره بیه چې وي دا میراث به راتلونکو ته په یو ښه میراث بدلوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا خپلې اوښکې پاکې کړې. یوه شیبه غلې وه او د هغه ښوونکي کېسه وریاده شوه، چې په یوه بمي چاودنه کې ټپي شوی ؤ او صنف ته په لکړو روان ؤ، نو ځکه یې د سولې په هکله داسې ؤپوښتل:

پلاره لسم ولسمشر به مو له سولې برخمن نه کړي؟

الماس ژبه په شونډو تېره کړه، ویې ویل:

د سولې په هکله یې ډېرې هلې ځلې وکړې او کوي یې د بیلګې په توګه:

د کورنۍ، سمه ییزې او نړیوالې اجماع رامنځته کول.

د حزب اسلامي سره بین الافغاني مذاکرات په بریالیتوب سره ترسره کول، چې په پایله کې دا په ځلوېښت کلنه جګړه کې لومړی ځل ؤ، چې یوه مخالفه ډله د جګړې پر ځای په سیاسي مبارزې پیل وکړي!!

په کابل کې د درو زرو تنو علماوو له لوري روانه جګړه ناروا وبلل شوه، چې دا هم د سولې په برخه کې اړین ګام ؤ.

د ۳۳ هېوادونو د استازو په ګډون په یوه ناسته کې بیا هم روانه جګړه یوه ناروا جګړه وبلل شوه.

بیا یې هم زړه صبر نه شو د کعبې له امام یې غوښتنه وکړه چې د حق فتوای ورکړي تر څو تور له سپین جلا شي.

د کعبې امام هم دا روانه جګړه ناروا وبلله، چې د سولې په بهیر کې یې یوه اغیزمنه فتوای بللی شو.

په اندونیزیا او ازبکستان کې د سولې په هکله کنفرانسونه دایر شول، چې د سولې په راوستلو کې خورا اړین ؤ.

په کوچني اختر کې دوه اړخیز درې ورځنی اوربند وشو، چې په ټول هېواد کې د امن ځپې خورې وې او په دې ۴۰ کلونو کې تر اوسه داسې اوربند نه ؤ اعلان شوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره لسم ولسمشر مخالفینو ته وویل:

هر ځای چې ستاسو خوښ وي په همغه ځای کې درسره کښینم!!

ښکلا د پلار خبرو کې را ولویده، ویې ویل:

نو دا مخالفین څه غواړي؟

الماس لنډ وویل:

سیاسي ویش!

د دې خبرې په اوریدلو سره ښکلا ټکان وخوړ ویې پوښتل:

څنګه سیاسي ویش؟

د الماس تندي بیا ګونځې وکړې، ویې ویل:

په دوه زره څوارلسم کال کې د قدرت لېږد تر څنګ د لس زره خارجي سرتېرو په وتلو سره امنیتي مسولیت په بشپړه توګه افغان ځواکونو ته ولېږدول شو، چې دښمن له دې فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره جګړې ته زور ورکړ او غوښتل یې چې له ۳۴ ولایتونو څخه لږ تر لږه ۱۷ ولایته تر خپل کنټرول لاندې راولي او هېواد په دوو سیاسي برخو وویشل شي؛ لیکن لسم ولسمشر دا کال د بقا د کال په نوم ونومولو. امنیتي ځواکونه مو په دې بریالي شول چې جګړه مدیریت کړي او همدا د جګړې مدیریت ؤ، چې هېواد یې له سیاسي جغرافیوي ویش وژغورلو.

د ښکلا په مخ کې بیا وینه ورکه شوه، ژیړ مخ یې نیولی ؤ، په خواره ژبه یې وویل:

په رښتیا چې له ولس سره مینه لري!

بیا یې په تصویر کې سترګې ښخې کړې او ویې پوښتل:

پلاره! د لسم ولسمشر او ولس ترمنځ واټن به هم په کمېدو وي که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس د لاسو له گوتو ټکا و ایستله او بیا یې خوله خبرو ته جوړه کړه:

لسم ولسمشر د ارگ دروازه د افغانستان د خلکو د مختلفو قشرونو پر مخ پرانیستلې ده. د هغه ارگ دروازه یادوم، چې د نهم ولسمشر د واکمنۍ پر مهال تړلې وه.

موږ او تاسو یې هره ورځ تصویرونه د ټولیزو رسینو له لارې وینو، چې لسم ولسمشر ته زموږ خویندې، ځوانان، محصلین، د مدني ټولنو غړي، ورزش کاران، هنرمندان او کارگران د خپلو ستونزو د حل په موخه تر ولسمشریزې ماڼۍ رسیږي!

ښکلا بیا د پلار خبرې غوځې کړې، ویې پوښتل:

پلاره لکه څومره چې ځوانانو ته لسم ولسمشر ښاغلی دی آیا لسم ولسمشر هم پر ځوانانو همدومره باور لري؟

الماس سر وښوراوه، زیاته یې کړه:

لسم ولسمشر هغه ولسمشر دی چې د یوې وینا پر مهال یې په زغرده وویل:

نور قدرت ځوانانو ته لیږدوم! د هېواد مشري هغه نسل ته په امانت ډول سپارم چې په ۹۰ مه لسیزه کې را لوی شوی او زما د هېواد اکثریت تشکیلوي! تر څو یو نسلي بدلون رامنځ ته شي.اوس ځوانان په هره برخه کې پیاوړي شوي دي.

لسم ولسمشر په خپل ملت ډېر ډاډه دی او په یوه بله وینا کې یې وویل:

اوس دا هغه پخوانی ملت نه دی چې غازي امان الله خان یې دې ته اړ کړ چې هېواد پرېږدي.

د ښکلا په مخ کې بیا سورخي پیدا شوه او د لسم ولسمشر سیاست خوند ورکړ نو ځکه یې وپوښتل:

پلاره! لسم ولسمشر د چا په لار روان دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماس ژوره ساه واخیسته په لړزیدلي غږ یې وویل:

د هغه غازي په لار روان دی چې همدې پردیپالو دې ته اړ کړ، ترڅو خپل هیواد پرېږدي او په پردي هیواد کې د ژوند د اړتیاوو پوره کولو له پاره د لرګیو د اره کولو په یو ماشین کې په ورځني مزد کار پیل کړي!

د ښکلا تندي ګونځې وکړې، په خورا حیرانتیا یې وپوښتل:

پلاره! دا غازي څوک ؤ؟

الماس بیا ساه واخیستله او په ټیټ غږ یې وویل:

لورې! غازي امان الله خان یادوم!

د ښکلا له سترګو اوښکې توئې شوې، سلګۍ ونیوله.

ښکلا فکر په مخه کړه، د وخت شاه یې په پردي ملک کې خړ پړ لیده!

الماس هم د ښکلا له سلګیو اغیزمن شو.

پلار او لور دواړه یوه شېبه غلي وو بیا الماس په خبرو پیل وکړ:

لسم ولسمشر په ولسمشریزې ماڼۍ کې ګرځیدلو، چې د غازي امان الله خان په کاري میز یې سترګې خښې شوې. په وینا یې میز ورغول شو چې اوس یې کاري میز دی او یو ډول ډاډ ورکوي! او هغه څوکۍ چې غازي امان الله خان پرې کیناستلو له ګدامه را وایستله او په خپل دفتر کې یې کېښودله.

شهزادګۍ هندیه د غازي امان الله خان لور، چې کله له لسم ولسمشر سره لیدنه کوله د لیدنې پر مهال یې د خپل پلار په کاري میز سترګې ښخې شوې، د میز تر شا کیناستله، د پلار واکمني ور یاده شوه. میز یې ښکل کړ!!

لسم ولسمشر په خپله وینا کې وویل:

زه د غازي امان الله خان نیمګړی فصل بشپړوم!

په لنډه توګه یې وایم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا لسم ولسمشر به یو پوروړی افغانستان په غني افغانستان بدل کړي!!

همدا لسم ولسمشر به وي چې د ملي ليوانو سره به د تېرو څلويښتو کلونو حساب وکړي!!

له بده مرغه چې موږ لسم ولسمشر نه پيژنو، نو ځکه نړيوالو پر موږ عجيب نوم ايښی:

بد مرغه ولسمشر!

نيک مرغه ملت!

د بد مرغه ولسمشر نوم په ښکلا ښه ونه لګېدلو په خواشينۍ يې وپوښتل:

پلاره! بد مرغه ولسمشر؟

الماس ټوخي واخيست، له جيب يې رومال را وکاږلو. د رومال يوه څنډه يې پر شونډو تېره کړه، بيا يې وويل:

هو لورې!

بد مرغه ولسمشر ځکه دی چې يو ويده ملت ور له غاړې دی. تر اوسه يې نه دی درک کړی تل په منفي تبلغاتو پسې سر ګرځوي. که ورته وويل شي چې غوږ دې سپي يووړ نو خپل غوږ نهويني په سپي پسې منډې وهي.

الماس د سر په ويښتانو لاس تېر کړ بيا يې وويل:

ملت ځکه نيک مرغه دی، چې داسې يو ولسمشر يې په نصيب شوی دی چې په ټوله نړۍ کې يې ساری نه ليدل کيږي!

ښکلا غلې وه الماس خبرې اوږدې کړې:

نړيوالو لسم ولسمشر هغه وخت ؤپيژندلو، کله چې په دوه زره لسم کال کې د فارين پاليسي په نوم يوې مشهورې امريکايي مجلې د سلو هغو کسانو نوملړ خپور کړ، چې په نړۍ کې برياليي کسان بلل کېدل. په دې نوملړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې زموږ لسم ولسمشر شلم ځای خپل کړی ؤ، چې د نړۍ شلم متفکر لقب یې ورکړو!

په دوه زره دیارلسم کال کې د پراسپیکټ په نوم بلې مشهورې مجلې ټولپوښتنه وکړه. په دې ټولپوښتنه کې د سلو هېوادونو څخه لس زرو کسانو برخه اخیستې وه. په پایله کې د سلو کسانو نوملړ یې خپور کړ، چې د اکسفورډ پوهنتون استاد ریچارد واکین لومړی مقام، لسم ولسمشر دویم مقام خپل کړ او د هارورډ پوهنتون استاد پروفیسور واستیفن پنکر درېیم ځای وګاټه. نو په همدې نوملړ کې لسم ولسمشر ته د دویم متفکر لقب ورکړل شو!

ښکلا د تصویر په ښښنه د ټیکري پیڅه کش کړه د تصویر ښښنه رڼه وځلیدله او بیا یې شونډې خلاصې کړې ویې ویل:

کاش چې بابا موږ ویده نه وای !!

کاش چې ستا په قدر پوهیدلی!!

ښکلا بیا د پلار په لورې سترګې وغړولې او له پلار یې ؤپوښتل:

پلاره لسم ولسمشر خو په ډېر کم وخت کې افغانستان د نړیوالو سیال کړ او له خپلو ژمنو یې ډېر څه وکړل. آیا راتلونکی به یې ځنګه وي، شونې ده چې په راتلونکي کې یې تصویر په سېکه کې چاپ شي؟؟

الماس په غصه شو ویې ویل:

دا پردي پال ډېر بل ډول خلک دي، تا تر اوسه تاریخ سم نه دی لوستلی! سید جمال الدین افغان د خپل هېواد په ګډون د ګاونډیو هېوادونو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي حالات و ارزول، غوښتل یې اسلامي هېوادونه او په ځانګړې ډول افغانستان د پرنګیانو له استعماري ولکې وژغوري. له همدې امله په ډېره بیړه خپل هېواد ته را وګرځیده، په دې وخت کې د افغانستان پاچا امیر دوست محمد خان ؤ. د افغانستان ژغورل د سید جمال الدین افغان ورکیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. سید جمال الدین افغان د هېواد پرېښودلو ته اړ شو، د هېواد پرېښودلو څخه وړاندې یې د وخت پاچا ته په دې تورو ټینګار وکړ:

د افغانستان سیاسي خپلواکۍ اعلان، د کابینې جوړښت، د ملي اردو تنظیم، د ملي ژبې "پښتو" بډاینه، د ښوونځیو جوړونه، د سړکونو جوړونه، پستې او مخابراتي اسانتیاوې او داسې نورو ټکو ته باید پوره پام وشي!

نو سید جمال الدین افغان خو افغانستان ژغورلو، ولې یې د هېواد پرېښودلو ته اړ کړ؟

په ژوندون یې له خپل هېواده مرور کړ او په مړینه یې بیا کوکې وهلې او هډوکي یې د ترکیې له هېواده راوړل!!

غازي امان الله خان هم په لومړۍ وینا کې خپله خپلواکي اعلان کړه او ویې ویل:

زه خپل ځان او خپل هېواد آزاد ګڼم تر دې وروسته به زما هېواد د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر آزاد وي او هیڅ خارجي قدرت ته به اجازه ور نه کړم، چې د سر ویښته په اندازه د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله وکړي.

د دې خبرې په پای کې یې خپله توره را وایستله، ویې ویل:

که مداخله یې وکړه نو په دې توره به یې سر له تنې غوڅ کړم!

خو افغانانو څه وکړل؟!

د بغدادي پیر په نوم د یو انګریز ملا یې وتړله چې اصل نوم یې ډیوډ جونز ؤ. د هغه غازي دولت یې پرې رانسکور کړ، چې مصطفی کمال اتاترک یې په دې درناوی کاوه، چې په اسیایي هېوادونو کې یې د انګریز سر ټیټ کړی!

په ژوندون یې دې ته اړ کړ، چې د خپلو هېواد والو د وینو تویول ونه ویني، له خپل هېواده مرور شو، لیکن اوس یې د خپلواکۍ کلیزې لمانځي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید ډاکټر نجیب هم همدې پردې پالو ته ډېرې ننواتې وکړې او ان له قدرت هم تیر شو، خو دې پردې پالو د پردیو په لمسون او د پردیو په لاس د آریانا په څلور لارې کې را ځوړند کړ! اوس یې ویډیویي خبرې اوري. هر څوک دا خبره کوي، چې لوی انسان مو په خپله له منځه یووړ!

نو هغه خبره مې را یاده شوه چې یو پوهـ ویلي دي:

افغان پوهان یا دې ته اړ کېږي چې خپل وطن پرېږدي او یا دا چې وژل کېږي!!

د ښکلا په ژبه بې اختیاره دا خبره راغله:

له نن وروسته به افغان پوهان نه وژل کېږي او نه به دې ته اړ کېږي چې هېواد پرېږدي!

ښکلا له ځایه پورته شوه په چیغو چیغو یې وژړل. تصویر یې په ټټر پسې جوخت ونیولو په دروازه کې یې داسې یوه ناره وکړه:

دا غني زما غني

دا د ټول ملت غني

دا د پرمختګ غني!!

دا د پرمختګ غني!!

پـــای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درنو لوستونکو!!**

خپلې نیکې مشورې مو په لاندې ادرسونو راسره شریکولی شئ:

د موبیل شمېرې: **۰۷۷۲۰۲۸۰۵۵ — ۰۷۹۳٤۲۸٦۳۵**

فېسبوک پاڼه: *Noorullah Sultanzouy*

ایمل ادرس: noorullahsultanzoy@gmail.com

واټس اپ شمېره: **۰۷۷۲۰۲۸۰۵۵**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**